۶۳۴

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

شپږویشتمه ګڼه ۱۳۹۵المریز کال د میزان ۱۷مه د ۱۴۳۷ هـ ق د محرم ۶مه د ۲۰۱۶م د اکتوبر ۸مه

عاشورا

روز بزرگ در قلب تاریخ!

افغان ولس په دې متفق شوی چې

جګړه د ستونزو حل نه

بلکې لانورې ستونزې زیږوي

نشست بروکسل،

از تعهدات تا عمل

د عاشورا د ورځې فضایل

د محرم د میاشتې اهمیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې حدیث څخه چې ابو هریره رضي الله عنه روایت کړی ښه په ډاګه کیږي،"له رمضانه ورو سته ترټولو غوره روژه د الله په میا شت کې روژه ده چې د محرم میاشت ده او له فرض لمانځه وروسته تر ټولو غوره لمونځ په شپه کې لمونځ دی. " (مسلم ٦:٢٦١١) د الله پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم محرم ته د الله میاشت ویلې ده چې د دې میا شتې ارز ښت او سپېڅلتیا په ګوته کوي او ترې معلومیږي چې په نفلي روژو کې د محرم د میاشتې روژې ترټولو زیات اجر لري.

د عاشورا په ورځ روژه نیول

د محرم ټوله میاشت محترمه ده او په هره ورځ یې روژه نیول ځانګړی اجر لري خو د محرم لسمه چې عاشورا ورته وایي د نورو ورځو په پرتله ځانګړی اهمیت لري. مونږ له یو شمیر صحیح روایاتو څخه پوهیږو چې په لمړیو کې د عا شورا د ورځې روژه نیول په مسلمانانو لازم وه. ورو سته چې کله د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشورا د ورځې روژه نفل وګرځېده.

له حضرت عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی: "د رمضان د روژې له فرض کیدو څخه د مخه به خلکو د عاشورا په ورځ (د محرم په لسمه) روژه نیوله. او په دغه ورځ به په کعبه باندې غلاف اچول کېده. هرکله چې الله د رمضان روژې فرض کړې نو د الله نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر څوک چې (د عا شورا په ورځ) روژه نیول غواړي وه دې یې نیسي او څوک چې غواړي پرې یې ږدي، کولی شي چې پرې یې ږدي. " (بخاري جلد ٢، کتاب ٢٦، حدیث ٦٦٢) خو رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان له فرض کیدو وروسته بیا هم د عاشورا په ورځ روژه نیوله.

د ګناهونه بخښنه

د عاشورا په ورځ روژه نیول د تیر کال ګناهونه له منځه وړي، لکه څرنګه چې زمونږ پیغمبر صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: "له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی چې ر سول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه د روژې په اړه پوښتنه وشوه.....له هغه څخه د عاشورا د ورځې (د محرم د لسمې ورځې) د روژې په اړه پوښتنه وشوه، چې په ځواب کې یې هغه (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: دغه روژه د تیر کال ګناهونه له منځه وړي.... " (مسلم: کتاب ٠٦، حدیث: ٢٦٠٣)

د عاشورا تاریخي اړخ

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی: کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مدینې ته راغی ویې لیدل چې یهودو د عاشورا په ورځ روژه نیوله. هغوی به ویل: "دا یوه عظیمه ورځ ده کله چې الله موسی علیه السلام ته نجات ورکړ او د فرعون لښکر یې غرق کړ. موسی علیه السلام په دغه ورځ روژه ونیوله ترڅو د الله شکر ادا کړي. "پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل، " زه له دوی نه موسی علیه السلام ته ډیر نږدې یم. " نو هغه په دغه ورځ روژه ونیوله او مسلمانانو ته یې امر وکړ چې په دغه ورځ روژه ونیسي. (بخاري: جلد ۴، کتاب ۰۵۵، حدیث ٦٠٩)

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۸۱۵۴۴۱۱۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر،

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت الله نظرمنزل۲ دوکان ۲۳/. ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سرک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زور محبس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار تلیفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سري جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تلیفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا انجمن اخلاق و معرفت شماره های تماس: ۰۴۰۲۳۷۰۱۲ - ۷۸۹۰۰۸۱۵۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفتر ساحوی بلخ ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ / ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوگر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د ګردیز ښار، مرکزي چوک، د نی نمایندګی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د اکتر محمد ګلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: قلات، عمومي جاده، د نجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترڅنګ، شمیره: ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶--۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید شماره تماس: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت، نا رسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشي: ۰۷۹۶۳۰۹۱٤۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشي

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال

وحید الله مصلح
عزیز احمد حنیف

طرح و دیزاین: الیاس« نوری»

شماره مسئول توزیع: 0744157052

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)
آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

سرمقاله

نشست بروکسیل،

از تعهدات تا عمل

سرانجام پس از سرو صداها و آمادگی‌های زیادی، کنفرانس بروکسیل ، بتاریخ ۱۳ و ۱۴ میزان هفته‌ی گذشته، باسخن‌رانی افتتاحیه‌ی رئیس جمهور اشرف غنی، در شهر بروکسیل پایتخت کشور بلژیک، برگزار شد. این کنفرانس، که در بخش کمک‌های اقتصادی به افغانستان تعیین کننده خوانده شده بود، درحالی برگزار گردید، که هنوز بخش عمده‌ی از تعهدات سران دولت وحدت ملی درکشور، جامه‌ی عمل نپوشیده و افغانستان با گذشت هر روز گواه جنگ‌های شدید بوده و صدها تن درین جنگ‌ها قربانی می‌شوند، سقوط کندز و چند ولسوالی دیگر از تازه ترین مواردی است که به وخامت اوضاع امنتی در کشور افزوده است.

با این وصف، تعهداتی که تا اکنون از سوی دولت افغانستان در اکثر این‌گونه نشست‌های حمایتی، به منظور جلب کمک‌های بیش‌تر صورت گرفته است، عبارت از مبارزه با مواد مخدر، مبارزه با فساد اداری، تأمین امنیت، مبارزه با تروریزم و پرداختن به حقوق زنان در کشور بوده است. درپی این تعهدات، کشورهای کمک کننده نیز، گاهی محاسباتی از اجرایی شدن این تعهدات داشته اند و گاهی هم، بدون ارزیابی و محاسبه، فقط به همان منافع اصلی و سری خویش اکتفا کرده و پس از هر چند مدتی، دوباره وعده‌ی همکاری‌های تازه را به دولت افغانستان سپرده اند.

با آن‌که بخش اعظم این کمک‌ها یا توسط خود کمک کنندگان و انجوهای داخلی شان و یاهم توسط فساد پیشه‌گان داخلی مأمور در دولت و نظام افغانستان حیف و میل شده است و شاید هم، از مجموعِ بیش از صد ملیارد دلار کمک خارجی صورت گرفته به افغانستان- نظر به آماری که ازسوی کشورهای کمک کننده منتشرشده است- تنها ۲۰ تا ۳۰ درصد آن در داخل افغانستان، بصورت شمرده به مصرف رسیده باشد و متباقی همه، توسط اطراف معاهدات و نشست‌های اقتصادی برای افغانستان - اعم از خارجی‌ها و داخلی‌ها- روانه‌ی بانک‌های خارج گردیده است و کم‌ترین سهمی هم مردم افغانستان درآن نداشته اند.

نشست بروکسیل، یکی ازهمین نشست‌هاست که بیش‌تر، برمحور همکاری‌های اقتصادی کشورهای شامل درین کنفرانس برای افغانستان متمرکز بوده و عمده ترین محوربحث هم، وعده‌ی کمک‌های تازه، سالانه حدود نزدیک به چهار(۴) ملیارد دلار، در پنج سال آینده از سوی کشورهای شامل در کنفرانس، به افغانستان است.

تعهدات تازه‌ی را که رئیس جمهور و رئیس اجرائیه‌ی حکومت وحدت ملی افغانستان، درین نشست به همکاران خارجی خود داده اند، شامل مبارزه‌ی جدی با فساد اداری، بذل توجه به حقوق زنان، و مبارزه با تروریسم، می‌باشد. رئیس جمهور، درقسمتی از سخنانش، زنان افغان را پاسداران و محافظان ارزش‌های دیموکراتیک عنوان نموده، و هم‌چنان در رابطه به مبارزه با فساد، به گرفتاری یکی از مأموران بلند رتبه، به جرم اختلاس ۱۵۰ هزار دلار به عنوان یک دستاورد، اشاره داشته است. آقای غنی، همچنان مبارزه‌ی جدی با فساد اداری را در صدر برنامه‌های خویش قلمداد کرده و به همکاران بین المللی اش درین مورد اطمینان داده است. رئیس جمهور غنی همچنان افزوده است، که مبارزه با تروریزم، کار مشترک آنان بوده و با توجه به این‌که تروریسم خوب و بد ندارد، متحدان بین المللی خویش را به همکاری و مبارزه‌ی جدی در برابر این پدیده فرا خواند.

با در نظرداشت وعده‌های چرب و نرم دولت‌مردان افغان، و سخن‌رانی‌های طویل و عریض شان در کنفرانس بروکسیل، دیده شود که این کمک‌ها چگونه به افغانستان خواهد آمد و چه استفاده‌ی درکدام بخش‌ها ازآن صورت خواهد گرفت و مهم‌تر این‌که: آیا سران حکومت وحدت ملی، به وعده‌های شان عمل خواهند کرد و یا این‌که باز هم وضعیت را همین‌گونه نگهداشته و به سیاست بازی‌های فرصت سوز شان ادامه می‌دهند؟؟ زمان به این پرسش پاسخ خواهد گفت.

نادیده نباید گرفت که، همکاری‌های اقتصادی از سوی کشورهای کمک کننده، با همه بی توجهی‌ها و حیف و میل شدن‌ها بازهم بی تأثیر نبوده و باعث شده است، تا بخش عمده‌ی بودجه‌ی سالانه را اکمال کند؛ ادامه‌ی این کمک‌ها باتوجه به گذشته‌ی آن، هر قدر سخاوت‌مندانه هم باشد، نمی‌تواند ما را به طرف خود کفایی برد؛ بل، چگونگی مصرف این کمک‌ها، در اعمار زیربناها و زیرساخت‌های مهم اقتصادی است، که مارا به خود کفایی سوق داده و در درازمدت، ازهمکاری‌های جامعه‌ی جهانی بی‌نیاز خواهد ساخت؛ مشروط برین‌که سردم داران و متولیان امور، بتوانند این کمک‌هارا درست مدیریت نموده، درجهت‌های درست و حیاتی استقامت دهند و از آن بهره‌ی لازم را ببرند.

افغان ولس په دې متفق شوی چې

جګړه د ستونزو حل نه، بلکې لا نورې ستونزې زیږوي

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو د مرکز مشر دکتور عبدالباقي امین له اصلاح ملي سره په مرکه کې:

که څه هم له یو لوري له اسلامي حزب سره د سولې خبرو بریالیتوب خلک هیلمن کړي دي، خو بل پلو په هیواد کې ورځ تر بلې خرابیدونکي امنیتي حالت، بې‌کاري، اداري فساد او نامعلومه راتلونکې، اندېښنې هم زیاتې کړي دي، همدا راز په سیمه او اسلامي نړۍ کې بدلیدونکي حالات او پر افغانستان یې اغیزې هغه پوښتنې دي چې اصلاح ر سنیز ګروپ د سیاسي چارو شنونکي، د پوهنتون استاد او د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو د مرکز مشر قدرمن دکتور عبدالباقي امین سره مطرح کړي دي چې له لوستونکو سره یې شریکوي.

اصلاح ملي: د ملي وحدت حکومت تېره دوه کلنه موده څنګه ارزوئ؟

عبدالباقي امین: زما په اند د ملي وحدت حکومت له پیل څخه د افغانستان د اساسي قانون خلاف یو سیاسي موجودیت ؤ، که څه هم دې حکومت په داسې وخت کې په کار پیل وکړ چې په هېواد کې جګړه ییز حالت ؤ، چې حکومت یې له ډېرو ستونزو سره مخ کړ. نو په دغه وخت کې یو ځواکمن مرکزي حکومت ته اړتیا وه، خو له بده مرغه د ملي وحدت د قوي او یو لاسي حکومت مخه ونیوله.

نو د ملي وحدت حکومت تېره دوکلنه موده کې چې کومې هیلې افغانانو لرلې، په هغه کچه پرمختګ ونه شو. افغانانو دې ته اړتیا لرله چې بهرني پوځیان دې له افغانستان څخه ووزي. که څه هم له دې سره بهرنۍ مرستې هم کمېږي، خو د لسو کالو لپاره چې د انتقال دوره ده (تر ۲۰۲٤ کال پورې) غوښتنه دا وه چې افغان حکومت داسې تګلاره خپله کړي چې افغانستان د خود کفایي پر لور بوځي او په پردیو ډېر باور ونه‌کړي او همدا رنګه په اقتصادي او نورو اړخونو کې داسې کړنو ته اړتیا وه چې دا باور خلکو ته ورکړي چې دوی دا توان لري چې په دغو پنځو کلونو کې افغانستان نیمه خودکفایي ته ورسوي. خو په خواشینۍ سره چې په دې اړه ناسم مدیریت تر سره شو، پر ځای د دې چې دوی کومې ژمنې خلکو ته ورکړې وې چې خلکو ته به د کار زمینه برابروي، اقتصاد به ښه شي او امنیت به راولې دا ژمنې ترسره نه شوې، خو برعکس افغانستان په یوې داسې بیدیا باندې بدل شو چې خلک د یوې مړۍ ډوډۍ په لټه کې سرګردانه د ناامنۍ شپې سبا کوي.

همدا ډول په تېره مرحله کې دا انتقادونه ډېر وو چې په افغانستان کې کار اهل‌کار ته نه سپارل کېږي او د حکومت واګې د مصلحتونو پر اساس وېشل کېږي، او خلکو نوي حکومت نه ډېره تمه لرله، خو په خواشینۍ سره چې د ملي وحدت په حکومت کې دغه د مصلحت سنجۍ معیار نور هم لوړ او د شایسته سالارۍ اصل نور هم ضعیف شو. زیات هغه ځایونه چې هغه تخصصي وظایف دي او تخصصي او کارپوه افرادو ته اړتیا لري، هغه د سیاسي رقابتونو پر اساس سره ووېشل شول.

زه خپله په دې نظر یم چې د ملي وحدت حکومت یوه ناکامه تجربه ده، افغانان له هغې نه ښه خاطره نه لري، ځکه دوی په دې ونه توانېدل چې د افغانستان مهم او بنسټېز قضایا په سمه توګه مدیریت کړي او د دغې مرحلې غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي.

اصلاح ملي: ډېر خلک په دې نظر دي چې ولسمشر په دغو وروستیو کې چې کوم اقدامات وکړل، هغه یو ستر بری دی، ډېرې بنیادي پروژې چې په تېرو پنځلسو کلونو کې سره له دې چې بهرنۍ مرستې هم ډېرې وې، نه وې پلې شوې مګر ولسمشر ډېرې دغه ډول پروژې پلې کړې، مثلا د برېښنا بندونه یې جوړ کړل، له بهرنیو هېوادونو سره اړیکې لا پیاوړې کړې، د ټرانزټ په برخه کې یې د پاکستان د لارې بدیلونه پیدا کړل، د فساد کچه یې را ټیټه کړه، نو ستاسې په اند دغه کړنې د ملي وحدت حکومت لاسته راوړنې نه دي؟

عبدالباقي امین: زه داسې نه وایم چې دا حکومت هېڅ لاسته راوړنې نه لري، زه فکر کوم دا لاسته راوړنې په دې مرحله کې چې افغانستان پکې قرار لري، ډېرې لوړې دي.

که چېرې په افغانستان کې یوارخیز حکومت شتون درلودلای، شاید تر دغو به یې زیاتې لاسته راوړنې لرلای. دا بلکل سمه خبره ده چې افغانستان ته په اقتصادي او تجارتي لحاظ مختلفې منابع او مختلفې لارې پېدا کول دا یوه ستراتیژیکه مسئله ده چې په دغه حکومت کې ورته پام وشو او د تأیید وړ ده، خو زما مطلب دا دی چې په ټوله کې چې د ملي وحدت حکومت ارزو و نو زیانونه یې تر لاسته راوړنو ډېر دي او په ډېر اساسي شکل چې دلته څه شی زیانمن شول، هغه ولسواکي ده. په ټاکنو کې خلک هغه چاته رایه ورکوي چې د هغه شخص برنامه یې خوښه وي او بیا په کار دا ده چې ګټونکی واک ته ورسېږي او و توانېږي چې خپلې وعدې د ملت پروړاندې عملي کړي، اما کوم کار چې دلته د ملي وحدت په حکومت کې وشو، په دې کار سره هېڅ لوري دا توان پیدا نه کړ چې خپله برنامه پلي کړي.

اصلاح ملي: د حکومت او د حزب اسلامي تر منځ د سولې هوکړه لیک لاسلیک کېدل چې خلک ورته ډېر خوشبینه دي او ډېر دروند استقبال یې وشو، ستاسې په نظر د دې تأثیر به په افغانستان کې د دایمي سولې د راوستو په لاره کې څه وي؟

عبدالباقي امین : یو مطلب دا دی هر څوک چې وسله پر زمکه ږدي او خپلې مبارزې ته د قانون په چوکاټ کې ادامه ورکوي دا یو مثبت بدلون دی، موږ هم باید دا تقویت کړو. افغانان باید په ټولیزه توګه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له زور څخه کار وانه خلي او په قانوني توګه په دې باندې فکر وکړي، دا به د هیواد د ثبات او استقرار لپاره ګټوره وي.

دویم مطلب دا چې دا قناعت اوس کاملا عام شوی چې نن ورځ په جګړه کې افغانان وژل کېږي، که څه هم دا د بهرنیانو جګړه ده، دغه استدلال چې جنګ باید استمرار پیدا کړي، د حزب اسلامي له راتګ سره نور هم ضعیفېږي. زما هیله دا ده چې طالبان هم په دې باندې قانع شي او د مذاکراتو د میز پر لور رالنډ شي او د افغانستان مسأله د خبرو او مذاکراتو له لارې حل شي.

بل خصوصیت چې په دې مذاکراتو کې دا ؤ چې دا مذاکرات پرته له بهرني منځګړیتوب تر سره شول. دا د افغانانو تر منځ مذاکرات ؤ چې له نېکه مرغه نتیجه یې هم مثبته وه او موږ ته دا درس هم راکوي چې افغانان کولای شي خپل منځ کې تفاهم ته ورسېږي او د خپل منځي تفاهم په نتیجه کې د بهرنیانو موافقه هم تر لاسه کړي او په راتلونکي کې کېدای شي چې له طالبانو سره هم په خپل منځي تفاهم کې دا مسأله را منځ ته شي او د حکومت دا نظر چې له بهرنیانو سوله غواړي، د دې پر ځای دا غوره ده چې افغان حکومت په خپل منځي مذاکراتو تمرکز وکړي. زما په فکر د حزب اسلامي راتګ به په افغانستان کې سیاسي او مدني مبارزه پیاوړې کړي.

په افغانستان کې چې یوه ستونزه شتون لري هغه دا ده چې سیاسي احزاب ځانګړې برنامې او اهداف نه لري او نه هم په برنامه‌یي توګه پرمخ ځي، د حزب اسلامي راتګ به د سیاسي منظمې او بنیادي مبارزې لپاره څه لارې خلاصې کړي. زه فکر کوم چې دا به په سیاسي مبارزه کې یو ډول حرکت وي او د حزب اسلامي غوښتنه هم همدا ده چې احزاب باید په سیاسي مبارزه کې یوڅه زیاته ونډه ولري او دا د هیواد د ثبات او اسقرار لپاره یو غوره ګام دی. بله دا چې د حزب اسلامي راتګ به د سیاسي توازن لپاره هم ګټور تمام شي، په خواشینۍ سره چې په افغانستان کې تر اوسه پورې داسې قوي احزاب چې هغه په سیاسي میدان کې ډېر تأثیرګذار وي وجود نه لري، او دا تجربه په افغانستان کې کمزورې ده، د حزب اسلامي راتګ کېدای شي دغه ډول یوې سیاسي مبارزې ته لاره هواره کړي. زه فکر کوم چې د حزب اسلامي شتون به د جګړې پر میدان باندې ډېر تأثیر و نه لري، خو د افغانستان په داخلي چارو به یې اغېزه زیاته وي. که څه هم ډېر داسې تحلیلونه شته چې د ملي وحدت په حکومت کې ډاکټر اشرف غني تر زیاتې کچې د یو سیاسي ګروپ ښښتن نه دی، نو د ډېرو په اند چې د حزب اسلامي راتګ به په لویه کچه هغه کسان چې سیاسي ګروپ په افغانستان کې نه لري او ضعیف دی د هغوی په تقویت کې کېدای شي رول و لوبولای شي.

اصلاح ملي: له افغانستان څخه به د اسلامي نړۍ پر لور لاړ شو نن سبا ګورو د اسلامي نړۍ په اکثره هېوادونو کې حالات سم نه دي، ځینې هیوادونه په مخامخ او وسلواله جګړه کې ښکیل دي، د عراق ډېر کلونه په جګړه کې تېر شول، سوریه هم جنګ ته داخله شوې، لیبیا، مصر او اوس په یمن کې جنګ او په ترکیه کې کودتاه. د دغو ټولو اصلي علت څه دی؟ آیا دا داخلي عتلونه دي که بهرنۍ دسیسې؟

عبدالباقي امین: زه خو په دې نظر یم چې په دغو تحولاتو کې داخلي او بهرني عوامل دواړه شته، یو عامل دا دی چې په اسلامي نړۍ کې نهضتي فکر ډېر رشد وکړ. دا چې اسلامي امت ولې وروسته پاتې دی، د دې اصلي علت څه دی؟ په داسې حال کې چې اسلامي هیوادونه ډېرې زیرمې، کرنیزې زمکې، معادن او داسې نورې ډېرې اقتصادي ځانګړتیاوې لري، خو له دې سره سره هم دا هیوادونه د بېوزلو ملکونو په قطار کې دي، د دې سبب څه دی؟

له ډېرو مسلمانانو سره دا فکر پیدا شوی چې اصلا استبداد او هغه نظامونه چې هغه د هیواد امکانات په درست شکل سره نه مدیریت کوي، هغه د خپل ځان او یا هم د خپلو خپلوانو په ګټه استعمالوي، هغوی د دې ټولو ناخوالو را پیدا کونکي دي. حقیقت هم همداسې دی چې په اسلامي نړۍ کې استبدادي نظامونه د اسلامي امت د وروسته والي لوی سبب دی، نو د دې هیوادونو خلک د استبداد پر وړاندې را اوچت شول. د استبداد پر وړاندې دا مبارزه یوه مدني مبارزه وه، د هغې په نتیجه کې حکومتونو سقوط وکړ او دوی تر زیاتې اندازې بریالیتوب ته ورسېدل. په ځینو ملکونو کې چې کومو نظامونو سقوط وکړ، یو ډله هغه خلک چې په پخوانیو حکومتونو کې یې کومې ګټې وې، هغوی یو ډول مخالفتونه پیل کړل. هغوی پوهېدل چې دلته به یو عادلانه نظام راشي، دوی به محاکمې ته کش کړل شي، نو دوی بیا په هغه شکل سره په دې ملکونو کې ځای نه لري. نو دهمدې لپاره هغه کسان چې تېرو استبدادي رژیمونو کې له اقتصادي او اجتماعي لحاظه تقویه شوي وو، هغه خلک د دې بدلونو مخالف وو چې هغو په دسیسو سره په دې هیوادونو کې جګړې ته لاره هواره کړه.

دویم مخالف حرکت چې په اسلامي امت کې په مخالف انداز باندې ؤ، هغه استبدادي رژیمونه وو چې د خطر احساس یې وکړ. دوی و انګېرله که دغه کامیابې تجربې لړ څه پرمختګ وکړي نو دوی به هم د هغو په نتیجه کې خپلې څوکۍ له لاسه ورکړي نو دوی د دغه مسالمت امیز حرکت چې د تغییر پر لور روان دی د دې پر وړاندې و دریږي او د دوی پر وړاندې خنډ ایجاد کړي . دریېم عامل دا ؤ چې تاسو پوهېږئ چې اسرائیلو د مسلمانانو ځمکې اشغال کړي دي نو اسرائیلو هم د خلکو حکومتونو له رامنځ ته کېدو څخه په ستراتیژیک لحاظ د خطر احساس کاوه نو دا د دغه حرکت پر وړاندې یو بل دښمن ؤ چې را پیدا شو البته څلورم عامل هغه استعماري ملکونه چې په غرب کې دي داسې فکر وکړ چې که دغه ملکونه په خپلو پښو باندې و دریږي نو زموږ اقتصاد به له خطر سره مخ شي، زموږ په تجارت به منفي اغېز وکړي که چېرته دا ملکونه په خپلو پښو ودریږي خودکفا به شي په خپل منځ کې به اقتصادي او تجارتي همکاري وکړي نو د دوی استعماري ګټې به په دې منطقه کې له خطر سره مخ شي د دغو ټولو څلورو اړخونو د همکاریو په نتیجه کې دغه حرکت چې د تغییر لپاره ؤ دا له ستونزو سره مخ شي او بالآخره مسالمت امیز حرکت په مسلحانه حرکت بدل شو او د دې سبب شو چې په اسلامي امت کې خلک او حکومتونه سره و نښلي دوی له یو بل سره مرستې وکړې د خلکو په مقابل کې یې هغو پخوانیو حکومتونو ته اسلحه ورکړه لکه څرنګه چې په لیبیا کې وشول تونس کې هم همدا کار وشو مګر هلته د اسلامي حرکت هوښیاري په زیاته اندازه وه چې د جنګ مخه یې ونیوله یو بل مشکل دا ؤ چې په اسلامي امت کې ثبات نور هم له خنډ سره مخ کړي یو خو د استبدادي نظامونو او خلکو تر منځ جنجال جوړ شو بل دا چې د شیعه او سني په نوم دلته یو اشکال ایجاد کړي زه خو په دې نظر یم چې استبداد دې ته هم لمن ووهله چې دغه ملکونه د ډېر وخت لپاره نا امنه کړي د شیعه او سني تر منځ جنګ چې دواړه ډېر مهم اړخونه دي دواړه یې په داسې جنګ اخته کړل چې د ډېرو متشددو اطرافو د رامنځته کېدو لپاره یې زمینه برابره کړه نو زما په نظر دا ټول هغه عوامل دي چې اسلامي امت یې تر دغه حده را ورسوه.

اصلاح ملي: په اسلامي نړۍ کې د شیعه او سني په نامه چې کوم د کرکې او نفرت ټغر خپور شوی دی او په نتیجه کې له ایران سره د ځینو اسلامي هیوادونو ستونزې چې په سر کې یې سعودي عربستان دي، په دې لوبه کې د امریکا او غرب رول څه دی؟

عبدالباقي امین : زه خپله هم په دې نظر یم چې د شیعه او سني تر منځ اختلاف او جنګ دا یوه استعماري پروسه ده، دا پروسه اوسنۍ نه، بلکې له ډېر وخت څخه پیل شوې ده، ځکه د اسلامي نهضت شتون به په هغه وخت کې ممکن وي چې اسلامي امت په خپل منځ کې سره هماهنګ وي که چېرې دوی په خپل منځ کې سره هماهنګ نه وي نو اسلامي امت به هېڅکله و نه توانېږي چې په خپل منځ کې داسې یو نهضت ته و رسېږي چې هغه په اقتصادي، امنیتي، دفاعي او ټولو حالاتو کې و توانیږي چې د غرب د تمدن مقابله وکړي .

اسلامي امت چې نور هم و نه توانېږي چې له دغو مشکلاتو څخه ونه وتلای شي په کومو کې چې ګیر دی یو داسې ستراتیژیک مخالفت د استعمار له نظر سره پکار دی چې عالم اسلام له دغې هماهنګۍ څخه وساتي هغه زما په فکر د شیعه او سني تر منځ اختلاف ؤ سره له دې چې امریکا په هېڅ مرحله کې نه له سعودي سره خپلې اړیکې خرابې کړي او له ایران سره یې هم روابط درلودل دوی له دواړو طرفونو سره خپلې اړیکې داسې ساتلي چې دا وښایي چې یا موږ بې طرفه یو یا هم هېڅ طرف نه غواړو له لاسه ورکړو زما په فکر اوسني جریانات هم چې د امریکا او ایران تر منځ هغه مشکلات چې ؤ تر یو حده حل شوي دي او همدا رنګه له خلیجي ملکونو سره یې هم روابط په هماغه شکل شته سره له دې چې کوم قانون چې په اوس وخت کې په امریکا کې پاس شو هغه هم په سیاسي روابطو باندې تر

ډېرې کچې اغېزناک نه دی ځکه چې سعودي هم اوس امریکا خپل ستراتیژیک دوست بولي او امریکا هم سعودي، قطر او امارت خپل ستراتیژیک دوستان بولي، که څه هم ایران سره خو تر اوسه دغې انداز ته نه دي رسېدلي. خو په ټوله کې دغه اړیکې په دې انداز کې شته چې د اسلامي امت لپاره یو سرخوړی جوړ کړي کوم څه چې په عراق او سوریه کې روان دي زما په فکر دا د دغه جنګ لپاره نوره هم تغذیه ده هغه څه چې زه وایم د اسلامي امت لپاره د شیعه او سني دواړو لپاره دا پکار دي چې په خپل منځ کې معتدل افکار نشر کړي.

د تاریخ په اوږدو کې شیعه په دې نه دي توانېدلي چې سنیان له منځه یوسي او نه هم سنیان توانېدلي چې اهل تشیع له منځ یوسي بنا د همزیستۍ داسې یوه صیغه باید جوړه شي چې د هغې په نتیجه کې موږ په اسلامي امت کې خپل منافع تقویت کړو او غرب په دې ونه توانېږي چې زموږ سیاستونه د دوی د استعمار په خدمت کې وي زه فکر کوم دا هغه صیغه ده چې باید وشي . یو بل شی چې امریکایان یا غرب په ټولیزه توګه توانېدلای دی چې د ایران او خلیجي ملکونو تر منځ چې سعودي یې په سر کې دی حساسیت دومره زیات کړي تر څو دلته یو وسله‌وال رقابت را منځ ته شي ځکه په تېرو کلونو کې به ستاسو په یاد وي چې سعودي عربستان له غربیانو نه ډېره زیاته وسله و پېرله او ایران هم په همدغه ډول خپل دفاعي مصرف یې کاملا لوړ کړ نو دا د غرب د هغو شرکتونو لپاره چې وسله جوړوي د دوې په دې کې هم اقتصادي ګټه ده او هم ستراتیژیکه ګټه ده.

دوی غواړي چې دلته وسلوال رقابت کاملا لوړ کړي تر څو وتوانېږي د غرب د اسلحو سوداګر دلته ډېره ګټه وکړي او د هغوی مالیات د امریکا له اقتصاد سره مرسته وکړي . زه فکر کوم چې په دې کې د اسلامي امت هېڅ منفعت نشته اسلامي امت په ستراتیژیک لحاظ باندې د شیعه او سني له قضیې څخه هېڅ ګټه نه شي پورته کولای او زموږ ځوان کهول باید دا پیغام واخلي چې شیعه او سني زموږ اساسي قضیه نه ده بلکې موږ ته پکار ده چې د اوسېدلو یوه داسې صیغه جوړه کړو چې د یو بل فرهنګي او مذهبي خصوصیتونو ته احترام وکړل شي او یو په بل باندې تجاوز نه وي اما په ستراتیژیک لحاظ باندې یو د بل تقویت وکړي او د اسلامي امت ګټې پکې وژغورل شي.

اصلاح ملي: د ایران او سعودي په کړکیچ کې افغان دولت او حکومت ته څه کول په‌کار دي، او له کوم لوري سره نږدې‌والی یې په ګټه دی؟

عبدالباقي امین : زه فکر کوم چې د افغانستان حکومت ته یو اهمیت دا دی چې موږ خپل داخلي وحدت و ساتلای شو، هر هغه شی چې د افغانستان د خلکو د یو والی ټینګښت، وروروولي او وحدت زیانمنوي، باید له هغې څخه ځان و ساتي دا باید په اولویتونو کې وي لکه څرنګه چې اهل تشیع او اهل تسنن په افغانستان کې سره ګډ ژوند کوي، حکومت کې سره شریک دي یو له بل سره همسایه داري لري دغه مسالمت امیز ژوند باید په همدغه ډول وساتل شي دویمه دا چې افغان حکومت ته په کار دي چې بېروني جنجالونه داخل ته رانه وړي که سعودي او ایران په خپل منځ کې مسابقه لري د دغې مسابقې آثار له دغه ځای څخه کم کړي لکه څرنګه چې اوس د پاکستان او هند تر منځ اختلاف دی افغانستان باید داسې لاره خپله کړي چې دا اختلافات دلته را نقل نه کړي د ایران او سعودي تر منځ اختلافات شته افغان حکومت باید دا کار ونه کړي چې دا جنګ دلته تصفیه کوونکي وي. موږ باید خپله زمکه د بهرنیو د بېروني مشکلاتو د تصفیې میدان نه کړو او دا موږ ته پکار دي چې عاقلانه خارجي سیاست ولرو زه خو د دې طرف دار یم له سعودي سره هم ښې اړیکې و لرو او له ایران سره هم چې زموږ ګاونډی هېواد دی هم.

د ایران اقتصادي حالت ښه دی او هم د سعودي موږ د دوی مرستو ته اړتیا لرو موږ باید د یو په مقابل کې هم و نه درېږو نه له پاکستان سره دښمني وکړو او نه هم له هند سره موږ د دغو ټولو کومکونو ته ضرورت لرو ځکه افغانستان یو جنګ ځپلی هېواد دی زه وایم چې موږ باید په دغه ډول جنجالونو کې بې طرفانه تګلاره ونیسو او باید زموږ په اړیکو منفي اغېزه ونه کړي ځکه چې افغانستان دومره ځواکمن هېواد هم نه دی چې د چا مقابله وکړي افغانستان ته په کار دي چې د یوې ښې دیپلوماسۍ په نتیجه کې د اقلیمي حساسیتونو د کموالي کوشش وکړي یعنې اوس په افغانستان کې هم داسې اطراف شته چې ایران ته لنډ دي او هم داسې اطراف شته چې سعودي ته لنډ دي د دغه ترکیب څخه په استفادې په عالم اسلام کې جنجال او بې ثباتي زموږ په زیان ده ځکه چې موږ هم د اسلامي امت یو جز یو موږ د دې پر ځای چې طرف ونیسو ولې د دغو جنجالونو د کموالي لپاره څه نه شو کولای زه فکر کوم په افغانستان کې خارجي سیاست ډېر متوازن او حاکمانه وي.

اصلاح ملي: د وروستۍ پوښتنې په توګه، په روانو حالاتو کې له بهرنیو هیوادونو او په ځانګړې توګه له پاکستان او ایران څخه د افغان کډوال راستیندل به چې دلته لاهم امنیت شتون نه لري او کاري زمینې هم نه شته، څومره د هیواد پر ګټه وي او بل خوا حکومت د دوی لپاره کوم پلان او یا برنامه لري؟

عبدالباقي امین : زه خو د کډوالو را ستندېل د افغانستان په ګټه بولم، دلته داسې زمینه برابرول چې مهاجرین ټول بېرته خپل وطن ته راشي په افغانستان کې ډېر بهرني مداخلات او بهرنۍ اغېزې ورسره له منځه ځي افغانان په خپل وطن کې میشت شي او په دې فکر شي چې موږ له افغانستان څخه پرته بل ځای د اوسېدو لپاره نه لرو نو د افغانستان جوړول پکار دي موږ نه تنها دا چې دغه مهاجرینو ته دا فکره ورکړو بلکې هغه افغانان چې په نورو ملکونو کې ژوند کوي ښه امکانات لري لکه په اروپا کې چې دي له خپل وطن سره و تړو او دغه ملک ټول په یو ځای آباد کړو سمه ده زموږ مهاجرین په ایران، پاکستان او داسې نورو ملکونو کې د ښه کاروبار څښتنان دي هغه پیسې چې دلته راشي دا هر څه ددې ملک په آبادولو کې یوه لویه ونډه اخلي خو افغان مهاجرینو راتګ به په پیل کې یو لړ مشکلات هم ولري یعنې په حکومت به فشارونه ډېر شي خو ورو ورو به دا مشکل حل شي تر څو په دې وتوانېږي چې افغانان په خپل وطن کې آرام ژوند وکړي.

افغان حکومت د مهاجرینو دوسیه هغه شکل سره چې مناسبه ده نه تعقیبوي، ما له ډېرو اطرافو څخه اورېدلي چې د مهاجرینو وزارت په فساد کې ښکیل دی، یا هم نه دی توانېدلی چې داسې د ډېر لوړهمت والا پروژه مطرح کړي، لکه تېرو کلونو کې د استرلیا حکومت غوښتل چې په افغانستان کې ښه کورونه او ښه ښارګوټي جوړ کړي او مهاجرینو ته یې په کم قیمت ورکړي، د افغان حکومت ځینو مشرانو په هغې کې د رشوت غوښتنه کوله چې د دغې پروژې د نه عملي کېدو سبب شوه.

زه د اسلامي همکارۍ د سازمان له یو مسؤول سره ناست وم هغه ویل چې یو قطری وویل چې ما ماشینونه واخیستل چې په افغانستان کې ښارګوټي جوړ کړم او مهاجرینو ته یې په کم قیمت ورکړم خو له بده مرغه افغان حکومت له موږ سره همکاري ونه کړه.

زموږ په ملک کې فساد ډېرې ژورې ریښې غځولي دي له همدې امله د خلکو خدمت په سم ډول نه تر سره کېږي کېدای شي په بهرنۍ نړۍ کې د مهاجرینو خواخوږي پیدا شي زما خپله غوښتنه دا ده له افغان حکومت او ډاکټر صاحب اشرف غني څخه چې په دې دوسیه کې لږ پاک او د لوړ همت والا پلان مطرح شي او د مهاجرینو لپاره داسې ښارګوټي جوړ کړي چې په هغې کې د ژوندانه ټول شرایط وي زه فکر کوم د زمکې توزیع دا هسې د خلکو غولول دي په داسې ځای کې زمکې توزیع کوي چې هلته نه برق شته نه اوبه شته او نه ژوند نور امکانات نو چې مهاجر وطن ته راشي حتما پیسو ته اړتیا لري دوی مجبور دي هغه زمکه خرڅه کړي که چېرته حکومت غواړي له بهرنیو هېوادونو سره دې داسې پروسه مطرح کړي چې داسې ښارګوټي جوړ کړي چې مکتب پکې وي اوبه وي او داسې نور حتا په قسط دې ورکړي مثلا که په لس زره ډالر باندې په یو اپارتمان کې غټ غټ تعمیرونه جوړ شي چې په هغه کې اوبه وي مکتب یې تر څنګ وي د کار زمینه برابره وي زما په فکر هر مهاجر به زړه ښه کړي چې خپل وطن ته راشي او په هغې کې واوسېږي حکومت د دې پر ځای چې زمکې توزیع کړي باید په یو درست شکل سره په مختلفو ښارونو کې مثلا په کابل، جلال آباد او داسې نورو کې لوی لوی د اوسېدو اپارتمانونه جوړ کړي او هغه دې مهاجرینو ته توزیع کړي او د دې لپاره دې یو لوی کمپاین وکړي دا کار ممکن دی ما تاسو ته د قطري تاجر کیسه وکړه هغه افغانستان ته راغلی ؤ ویل یې چې موږ دې کار ته چمتو یو مګر د رشوت اخیستلو له امله دا کار ونه شو زه خپله د مهاجرینو راتګ ته ډېر خوشحاله یم افغان حکومت هم باید خپلو مسؤولیتونو ته متوجه شي.

پاي

دست‌آوردها و کاستی‌های دو سال حکومت وحدت ملی

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

دو سال پیش به تاریخ هفتم میزان ۱۳۹۳ اشرف غنی به حیث رئیس جمهور و داکتر عبدالله به حیث رئیس اجرائیه، توافقنامهٔ حکومت وحدت ملی را با میانجیگری جان کیری وزیر خارجهٔ امریکا امضا کردند و روز چهارشنبه گذشته، دو سال عمر این حکومت تکمیل گردید.

حکومت وحدت ملی در این دو سال، با مشکلات و چالش‌هایی فراوانی در عرصه‌های سیاسی، اقتصادی و امنیتی روبرو بود. این حکومت از یک‌سو با بحران "مشر وعیت" و مخالفت‌های اپوزیسیون سیاسی روبه‌رو بود و از سوی دیگر با اختلافات داخلی میان رئیس جمهور و رئیس اجرائیه نیز دست و پنجه نرم می‌کرد که در ماه‌های اخیر این اختلافات نسبت به هر وقت دیگر، جدی‌تر شد.

اینکه حکومت وحدت ملی در این دو سال چه دست‌آوردهایی داشت و با چه مشکلات و کاستی‌ها روبه‌رو بود، موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن پرداخته شده است.

دست‌آوردهای حکومت وحدت ملی

پیوستگی اقتصادی منطقوی؛ حکومت وحدت ملی در دو سال گذشته در عرصهٔ پیوستگی اقتصادی به سطح منطقه، دست‌آوردهایی داشت. قرارداد پروژهٔ تاپی که قرار است گاز ترکمنستان را از طریق خاک افغانستان به کشورهای پاکستان و هند انتقال دهد، در ماه قوس ۱۳۹۴ میان رهبران چهار کشور (ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند) امضا شد.

قرارداد پروژهٔ انتقال ۱۳۰۰ میگاوات برق قرغیزستان و تاجکستان به افغانستان و پاکستان، موسوم به کاسا-۱۰۰۰ نیز میان کشورهای (قرغیزستان، تاجکستان، افغانستان و پاکستان) به امضا رسید که به عنوان یک پل انرژی بین آسیای میانه و آسیای جنوبی پنداشته می‌شود. این پروژه در ماه ثور ۱۳۹۵ در دوشنبه با حضور رئیس اجرائیهٔ افغانستان رسما افتتاح شد.

تفاهم‌نامه‌ای زیر نام "پروژهٔ یک کمربند، یک راه" در اوایل سال ۱۳۹۵ میان افغانستان و چین به امضا رسید و به این ترتیب افغانستان نیز بخشی از "راه جدید ابریشم" چین گردید که چین را به آسیای میانه، شرق میانه، افریقای شمالی و اروپا وصل می‌کند.

در بخش ترانزیت منطقوی نیز قرارداد تجارتی و ترانزیتی بندر چابهار میان سران سه کشور (افغانستان، ایران و هند) در ماه جوزای ۱۳۹۵ در تهران به امضا رسید. در کنار این، تجارت میان افغانستان و چین از راه تاجکستان و قزاقستان نیز حدود یک ماه پیش از طریق خط آهن ترانسپورتی آغاز گردید.

پروژه‌های اقتصادی در داخل کشور؛ در دو سال اخیر در داخل کشور نیز شماری پروژه‌های زیربنایی تکمیل و یا هم افتتاح شد. یکی از این پروژه‌ها افتتاح بند سلما در هرات بود که به کمک هند ساخته شده و ظرفیت تولید ۴۲ میگاوات برق و تأمین آب برای ۲۰۰ هزار جریب زمین را دارد. همچنان تفاهم‌نامهٔ انکشاف بند کجکی هلمند و نصب چهار توربین جدید در این بند، با یک شرکت ترکی امضا شد که ظرفیت تولید برق این بند را از ۵۱ میگاوات به ۱۵۱ میگاوات افزایش خواهد داد. از جانب دیگر، حکومت وحدت ملی قرارداد بند بخش‌آباد ولایت فراه را نیز با یک شرکت ایتالیایی به امضا رساند که با تکمیل این بند ۱۰۴ هزار هکتار زمین در ولایت فراه آبیاری و ۲۷ میگاوات برق تولید خواهد شد.

افزایش عواید حکومت؛ هرچند افزایش عواید در دو سال گذشته قابل بحث است، ولی با آن هم برخی اصلاحات و تغییرات، به گونهٔ مثال وضع مالیه بر کردیت مصرفی شبکه‌های مخابراتی، در افزایش عواید حکومت نقش داشت و حکومت افغانستان امسال برای نخستین بار در طول چند سال گذشته، عواید بیش از عواید تخمین‌شده را جمع‌آوری کرده است.

جلب حمایت جامعهٔ جهانی؛ حکومت افغانستان در کنفرانس لندن (۲۰۱۴) طرح‌های خویش برای اصلاحات را ارائه نمود که با استقبال گرم کشورهای کمک کنندهٔ افغانستان روبه‌رو شد و ۵۹ کشور بر تعهد شان به حمایت از افغانستان تاکید کردند. حکومت وحدت ملی در کنفرانس بروکسل نیز حمایت ناتو و کشورهای اروپایی را به دست آورد و اکنون نیز به کنفرانس بروکسل که قرار

است در هفتهٔ اول ماه اکتوبر برگزار گردد، آمادگی می‌گیرد و به همین دلیل سران حکومت وحدت ملی در چند ماه اخیر برای کاستن از اختلافات داخلی خویش تلاش کردند و در آستانهٔ این کنفرانس موافقت‌نامهٔ صلح با حزب اسلامی را نیز امضا کردند. حمایت جامعهٔ جهانی برای ادامهٔ کمک‌ها به خصوص تمویل نیروهای افغان و برخی پروژه‌های انکشافی از اهمیت بیشتر برای این حکومت برخوردار است.

گسترش روابط نظامی با کشورهای منطقه؛ حکومت وحدت ملی تلاش‌هایی برای گسترش روابط نظامی با کشورهای چین، هند و روسیه کرد که چین و هند در این عرصه تاکنون کمک‌هایی با افغانستان کرده و از روسیه نیز هلیکوپترهای نوع ام ۱۷ و ام ۳۵ را خریداری کرده است.

امضای توافقنامهٔ صلح با حزب اسلامی؛ توافقنامهٔ صلح میان حکومت افغانستان و حزب اسلامی (حکمتیار) روز پنجشنبه (۸ میزان ۱۳۹۵) به امضا رسید که براساس آن حزب اسلامی از مبارزهٔ مسلحانه در برابر حکومت افغانستان دست می‌بردارد و در بدل آن نام‌های رهبر و اعضای حزب اسلامی از لست سیاه سازمان ملل متحد حذف می‌گردد و زندانیان سیاسی این حزب نیز از زندان‌های افغانستان آزاد می‌شوند. هرچند امضای توافقنامهٔ صلح با حزب اسلامی (حکمتیار) روی وضعیت امنیتی و جنگ جاری در کشور تاثیر زیادی نخواهد داشت، ولی با آنهم این توافق به عنوان یک دست‌آورد برای حکومت افغانستان پنداشته می‌شود.

چالش‌ها و مشکلات حکومت وحدت ملی

بحران مشروعیت؛ مشکل بزرگی که حکومت وحدت ملی در دو سال گذشته با آن دست و پنجه نرم می‌کرد، بحران مشروعیت در داخل نظام بود. اساس این حکومت به نقض قانون اساسی کشور بنیان نهاده شد و پست ریاست اجرائیه که در قانون اساسی کشور پیش‌بینی نشده بود، ایجاد شد. نظام انتخاباتی کشور خلاف وعده‌ها اصلاح نشد و دورهٔ کاری مجلس نماینده‌گان خلاف قانون اساسی کشور برای یک سال دیگر تمدید شد و شماری وزرای کابینه نیز در همین سال از مجلس نماینده‌گان رأی اعتماد به دست آوردند. در کنار این، فرانخواندن لویه جرگه براساس توافقنامهٔ وحدت ملی نیز راهی برای تشکیل یک اپوزیسیون تازهٔ سیاسی در برابر حکومت وحدت ملی ایجاد کرد.

اختلافات داخلی و عدم هماهنگی در راه‌کارهای حکومت؛ در مدت دو سال عمر حکومت وحدت ملی، شرکای حکومت با اختلافات عمیق داخلی روبه‌رو بودند که باعث مواقف ضد و نقیض رئیس جمهور و رئیس اجرائیه در برخی قضایا گردیده و نظرهای مخالف یکدیگر را ابراز می‌کردند. از موقف حکومت در قضیهٔ پناهجویان افغان در اروپا، قضیهٔ مبارزه با فساد اداری، قضیهٔ جنگ یمن و عربستان سعودی در سیاست خارجی و اختلافات در مورد تفویض مدال‌ها و تقدیر از شماری مقام‌های بلندرتبهٔ حکومت، به عنوان نمونه‌هایی از اختلافات داخلی میان سران این حکومت یاد کرده می‌توانیم.

وضعیت خراب امنیتی؛ وضعیت امنیتی کشور پس از ایجاد حکومت وحدت ملی روز به روز روبه خرابی نهاد. در مرحلهٔ نخست موجی از انفجارها در کشور به خصوص در کابل آغاز شد که انفجار در منطقهٔ شاه‌شهید شهر کابل، حمله بر حوزهٔ نهم و ساختمان وزارت دفاع و غیره خونین‌ترین آنها بود. تاکتیک جنگ طالبان تغییر کرد و این گروه به تصرف کردن ولسوالی‌ها، شهرها و مناطق مهم روی آورد. دامنهٔ جنگ به شمال کشور نیز گسترش یافت، شماری از ولسوالی‌ها به دست طالبان سقوط کرد و شهر استراتیژیک کندز نیز برای دو هفته به دست طالبان افتاد.

گروه داعش در برخی ولایات کشور ظهور کرد و در مناطق شرقی کشور جنگ خونینی را در برابر حکومت و طالبان آغاز کرد که در کنار تشدید جنگ در تمام کشور، کشتارهای جنگجویان وابسته به گروه داعش نیز باعث افزایش تلفات ملکی گردید و نسبت به سال‌های پیش در این سال‌ها تلفات ملکی نیز به اوج خود رسید.

از سوی دیگر، در زمان حکومت وحدت ملی دو حادثهٔ مهم دیگر نیز روی داد که یکی آن اعلام مرگ ملا محمد عمر بنیان‌گذار و نخستین رهبر گروه طالبان و دوم نیز کشته شدن ملا اختر محمد منصور رهبر این گروه در پاکستان بود.

وضعیت خراب اقتصادی؛ در طول دو سال عمر حکومت وحدت ملی وضعیت اقتصادی کشور نسبت به یک‌ونیم دههٔ گذشته روز به روز خراب‌تر گردید، ارزش افغانی به پایین‌ترین حد خود رسید، میزان بی‌کاری به اوج خود رسید، کشور با فرار سرمایه‌ها روبه‌رو شد و رشد اقتصادی کشور نیز کم شد.

فرار جوانان از کشور؛ وضعیت خراب امنیتی و اقتصادی باعث گردید تا صدها هزار تن راهی کشورهای اروپایی شوند. به این ترتیب میزان مهاجرت افغان‌ها به کشورهای غربی در دو سال حکومت وحدت ملی به صورت بی‌سابقه‌ای افزایش یافت و شمار زیادی از جوانان تحصیل‌یافته و متخصص از راه‌های خطرناک به اروپا رفتند.

عملی نکردن تعهدات؛ رهبران حکومت وحدت ملی نتوانستند تعهداتی که پیش از تشکیل حکومت و در اوایل ایجاد حکومت سپرده بودند، عملی نمایند. از جملهٔ آن، به وعده‌هایی که در منشور تیم انتخاباتی تحول و تداوم و موافقتنامهٔ وحدت ملی داده بودند، تا هنوز جامهٔ عمل نپوشانده است.

مخالفت‌های سیاسی؛ حکومت وحدت ملی در این دو سال با مخالفت‌های سیاسی زیادی روبه‌رو بوده و این مخالفت‌ها به حدی رسیده که مخالفین سیاسی حکومت در پی سقوط این حکومت و تشکیل یک حکومت موقت اند.

بی‌اعتمادی روزافزون مردم بر حکومت؛ بربنیاد برخی سروی‌ها، اعتماد مردم بر حکومت وحدت ملی به صورت ماهوار کم شده است. براساس سروی سال ۱۳۹۴ مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، ۷۸,۷۶ در صد مردم کشور در مورد حکومت و وضعیت عمومی کشور بی‌اعتمادی خویش را ابراز داشتند و در پاسخ یک پرسش دیگر در این سروی، ۶۹ در صد مردم گفته بودند که حکومت وحدت ملی در یک‌ونیم سال گذشته دست‌آوردهای اندکی داشتند.

زما د وطن ښوونکي

لیکوال: رحیم الله حریفال

د سمندر تل ته لا کاڼی رسیدلی نه دی
باقره! دومره ژر د چا نه څوک هېرېږي ولې
ترڅلورم ټولګي پورې مو د پردیو سیمټي دیوالونو سیورو ته زده کړې وکړې، د پنځم صنف له پیل کېدو وړاندې مو کډې تیارې شوې او خپل جګړه ځپلي هېواد ته مو د راتللو نیلی زین کړ او خپل خواږه وطن ته راغللو، په کلي او کوڅو لاهم د جنګ پیکه سایه خوره وه، ژوند یوې له ویرې او ناهېلیو ډکې تابلو ته ورته ؤ، د ماښام تر راتللو وړاندې به هغه لږ شور او ځوږ چې د کلي په کوڅو کې به خپور ؤ په یوې صحرای چوپتیا بدل شو، د کلي کوڅې به دې مرګونې خاموشۍ نورې هم ویرونکې کړې. په کلي کې ډېر کورونه لا تش پرا ته وو، ختین مسجد مو لوډسپیکر نه درلوده او اذانونه به مو د جومات په زینو کې کول.

ښوونځی مو له کلي نه لرې په یوه کلاکې ؤ، چې له یوې کوټې پرته نورې کوټې یې هم نه لرلې، ټولګي مو یو بل ته نېژدې د ختینې کلا په منځ کې له دیولونو پرته څېرې جوړې کړې وې، ښه مې یاد دي، چې کله به هوا توده شوه، هر زدکوونکي به له خپلو ونو نه یوه یوه ګیډۍ ځنګل راووړ. د څپریو تر سیوریو لاندې مو په پلاستکي فرش د لرګي تورې تختې ته زده کړو ته دوام ورکاوه.

د ښوونکي له پاره یوه چوکۍ هم لا نه وه، چې څو شیبې پرې دمه شي.

درس به، چې پای ته ورسید معلم صاحب به د ختینې کلا دیوال ته ډېره ووهله او شاګردانو به خپلو مجلسونو ته مخه کړه؛ یوه ورځ د ریاضي استاد له درس ورکولو وروسته دیوال ته ډېره ووهله داسې، په خپلو بې پایه چورتونو او فکرونو کې لاهو شو ، تا به ویل، چې هېڅ په دې دنیا کې نه دی.

لومړی مې وویل، ولې معلم صاحب دومره بې غوره دی، چې هېڅ د ټولګي وضعیت او د شاګردانو نارو او چیغو ته نه دی متوجې... د خپل وطن ښوونکی به مې د بل وطن له ښوونکو سره پرتله کاوه، په هغه وخت کې لا په دې توپیرونو سم نه پوهېدم، له کلونو وروسته کله، چې خپله هم د ژوند له بې شمیره مسوولیتونو او جنجالونو سره مخ شوم. پوه شوم، چې زما بې وسه او مجبوره ښوونکي به څه ډول سم درس راکړی وای؟! په داسې حال کې، چې په کور کې یې د خوراک له پاره څه نه درلودل؟! په داسې حال کې ، چې د خپلې ناروغې لور او زوي لپاره یې د درملو پیسې نه درلودې د ژوند سهلتونه او اسانتیاوې خو لا پر ځای پرېږده، ترکلونو کلونو او ښتولو وروسته مې اوس د خپل بې وسه معلم په هغه درد یدلي حالت زړه وسوځي او له ځان سره وایم، چې ته څنګه هغه ښوونکی، چې له ډېره مجبوریت نه یې کورته د تګ زړه نه کېږي. ټوله ورځ په ذهن کې د ژوند له شته جنجالونو سره په کشمکش اخته دی؛ له هغو ښوونکو سره پرتله کړې، چې هېڅ ډول ستونزې نه لري د سولې او امن په فضا کې په پوره ډاډ او ویاړ سره ښوونځي ته ځي.

لنډه دا، چې:

د بې وزلۍ او غریبۍ د همدغې دورې نسل نن لوړو ځایونو ته رسېدلی دی، نن هماغه د څپریو لاندې په خړو خاورو کې نا ست زده کوونکي ستړې دندې مخ کې وړي او د ژوند له ډېرو امکاناتو او سهلتونو څخه برخمن دي، خو زمونږ د پرون او نن ورځې ښوونکي بیا هم له کړاونو او ستونزو ډک ژوند لري، په زیاترو دولتي ادارو کې د هماغو استادانو شاګردان د واک او صلاحت درلودونکي دي، خپل بې وزله ښوونکي د ژوند رنګنیو ترینه هېر کړي.

راځئ، چې لږ خپل ګریوان ته سر تیټ کړو، یوازې په مبارکیو ویلو بسنه ونه کړو، چې ښوونک ورځ دې مبارک شه! بلکې د خپل توان مطابق د خپلو ښوونکو لاسنیوی وکړو. هم به مو خپل مسوولیت ادا کړی وي او هم به مو د هېواد د راتلونکي له پاره ډېر څه کړي وي.

اړيکې: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

حسین مقاومت کننده در برابر ظلم و استبداد

آری حسـین رضـی الله عنه نه تنها ازخاندان نبوت بود بلکه او با این گفته های جدش ایمان کامل دا شت وبه مـصداق همین گفته ها او سخت درمعرض امتحان قرار گرفت تا اینکه در سال ٦١ هجری در میدان کربلا با یاران واهل بیتش به شهادت رسیدند. اگر حسـین رضـی الله عنه با آنچه به آنها پیشـکش شـده بود آنرا قبول می کرد امروز دیگر هیچ کس تاب مقاومت در مقابل ظلم واستبداد را نمی داشت. ازاین رو او اولین شخصی بود که درمقابل کسانیکه خواستار جدای دین ازسیاست بودند، رزمید وجان خود را نثار بقاء دین با سیا ست کرد. اگر او آرام می نشست ونظاره می کرد نه تنها او کشـته نمی شـد بلکه برای او مال ومتاع دنیا بخشـیده می شـد. حسـین مانند پدر گرامی اش علی ابن ابی طالب رضـی الله عنه خلیفه چهارم مسـلمانها برای بقای این دین راسـتین جام شـهادت نوشـید وهرگز تسـلیم ظلم وبیداد گری نشـد. به جهانیان درس آزادی وآزاد خواهی را آموختاند. با دست خالی وقلت زاد سفر طولانی را پیمود تا اینکه د ست ظالم را بردارد. شهادت او در آن مقطع زمان نه تنها یک فاجعه بزرگ بود بلکه یک فتنه عظیم هم برپیکر امت اسـلامی بود که تا به امروز آن ادامه دارد. اما ما من حیث مسـلمان بجز از این که به قضـاء وقدر خدا ایمان داریم وآنچه شـده اسـت گذ شته ا ست وخداوند مارا د ستهایمان را از آن فتنه نجات داد کوشش کنیم که زبان های مان هم از فتنه گفتار نجات بیابد. ودعا کنیم که خداوند برای تمام شـهداء امت اسلام اجر عظیم وجنات برین عطا کند.

رسول الله ویاران شان عاشورا را چگونه به استقبال گرفتند؟

جواب:

آنچه از رسول الله صلی الله علیه وسلم و یاران شان ثابت شده اینست که پیغمبر صلی الله علیه وسـلم به خاطر بزرگ داشـت نصـرت حق بر باطل دي این روز که الله جل جلاله موسي را بر فرعون پیروزي بخشـید و فرعون را در این روز غرق کرده اسـت، و بخاطر آن به روزه گرفتن دستور دادند.

رسول الله صلي الله علیه و سلم خود شان در این روز روزه میگرفتند و صحابه را نیز به روزه گرفتن دستور داده اند.

اگر چه در بعض روایات امده اسـت که پیش از اسـلام قریش نیز در روز ده محرم روزه میگرفتند و در برخي از روایات امده ا ست که قریش در جاهلیت گناه بزرگي را مرتکب شدند براي شان گفته شد که شما عا شورا را روزه بگیرد که کفاره گناه شما میبا شد. اگر چه در صـحت روایات مشـکلات دارد ولي انچه در احادیث صـحیح امده اسـت اینست که رسول الله صلي الله علیه وسلم در این روز روزه گرفته اند و یاران ایشان نیز روزه میگرفتند. دیگر کدام کار خاص و یا مرا سم ویژه دیگري نه از رسول الله صلي الله علیه وسلم و نه از یاران ایشان به اثبات رسیده است.

سوگورای بعد از سه روز

از زینب بنت ابی سـلمه رضی الله عنها روایت شـده که گفت:من بر ام حبیبه رضی الله عنها همسر پیامبر صلی الله علیه وسلم هنگامی که پدرش ابو سفیان بن حرب وفات یافت، وارد شدم وی خوشبوئی را طلبید که در آن زردی بود، خلوق (مادهء خوشبو) یا جز آن بود و دختری را از آن چرب نموده و به رخسارهای خود د ست کشید. و سپس گفت: والله من به خوشـبوئی نیازی ندارم، مگر از رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم شـنیدم در حالیکه بر منبر بود می فرمود: روا نیسـت برای زنی که به خدا و روز آخرت ایمان دارد، اینکه بر مردهء بیش از سه روز، عزاداری کند، مگر بر شوهر چهار ماه و ده روز. زینب گفت: سـپس بر زینب بنت جحش وارد شـدم هنگامی که برادرش وفات یافت. او خوشبوئی خوا سته و از آن مالید و سپس گفت: والله من به خوشبوئی نیازی ندارم، جز اینکه از رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم در حالیکه بر منبر بود شـنیدم که می فرمود: برای زنی که به خدا و روز آخرت ایمان دارد، روا نیست که بر مردهء بیش از سه روز عزاداری کند جز بر شوهرکه چهار ماه و ده روز عزاداری می نماید.

وقایع مهم روز عاشورا

واقعات زیرین به وقوع پیوسته است:

١ در این روز، خداوند موسی علیه السـلام را نصرت بخشـید، در دریا راه را برایش باز نمود تا از چنگ فرعون نجات یافت و فرعون با لشکرش غرق گردید.

٢ در این روز کشتی نوح علیه السلام با سلامتی در جودی استقرار یافت.

٣ در این روز یونس علیه السلام از شکم نهنگ نجات یافت.

٤ در این روز خداوند توبه آدم علیه السلام را پذیرفت.

٥ در این روز یوسف علیه السلام از قعرچاه تاریك بیرون آورده شد.

٦ در این روز عیسی علیه السلام به دنیا آمد و در همین روز به آسمان برده شد.

٧ در این روز خداوند داود علیه السلام را مورد عفو و بخشش خود قرار داد.

٨ در این روز ابراهیم علیه السلام چشم به جهان گشود.

٩ در این روز چَشمان یعقوب علیه السلام دو باره روشن گردید و بینا شد.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

ومعلوماتي

په عاشورا کې له خرافاتو ځان وساتئ

هغوی چې د عاشورا ورځ د یوې غمیزې په توګه یادوی، په چېغو ژاړي، د جاهلیت دود او شـعایر را ژوندی کوي چې هغه د مخونو، ځانونو وهل، د ګریوانونو شـلول، او د جاهلیت په توګه د تعزیت مراسـم پالل، او د غم سـندرې او قصـیدې ویل دي، او یو شمیر هغه ناسم خرافاتي نظریات چې اصل نه‌لري هغه یاد ساتل، او غمونه تازه کول، تعصـب ته لمنه وهل، د کېنې او جګړې اور ته پوکی ورکول ، د مسـلمانانو ترمنځ د اختلافاتو زیاتول او په دې کار سره پخوانیو اسلافو صالحو ته ښکنځل کول، یو لوري دا تفریط او بل لوري ته یې نور جاهلان هم په خرافاتو سره مقابله کوي، چې هغوی دا ورځ د یو اختر په توګه لمانځي، سـترګي توروي، لاس سره کوي، نوې جامې اغوندي، او څو ډوله خوراکونه کوي، او دا افراط کونکی او هغه تفریط کونکې دواړه د سـنتو خلاف کار کوي، او په ګمراهۍ او بې لارۍ کې اخته دي. (الفتاوي الکبری، لابن تیمیه)

د عاشورا ورځ

د دې میاشـتې لسـمه نیټه د عاشـوراء مبارکه ورځ ده او د دې ورځې د روژې په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

د عاشـوراء د ورځې د روژی په اړه د الله تعالی نه امید لرم چې د مخکیني یو کال ګناهونه به الله تعالی پرې وښښي. (مسلم)

علامه ابن قیم رحمه الله په زاد المعاد کې لیکي:

د عاشوراء د روژي دری مراتب دي:

لومړی دا ده چې د عاشـوراء پر ورځې سربیره یوه ورځ مخکې یعنې ۹ محرم او یوه ورځ وروسته ۱۱ محرم روژه هم ونیول شي، دا تر ټولو بهتره مرتبه ده.

دویمه مرتبه دا چې نهم او لسم محرم روژه ونیول شي.

دریمه مرتبه دا چې یوازې د عاشوراء د ورځې روژه ونیول شې چې دا یې آخري مرتبه ده.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ، یهود یې ولیدل چې د عاشـوراء د ورځې روژه یې نیوله، نو پوښـتنه یې ځیني وکړه چې دا روژه په کوم منا سبت نیسی؟ هغوی وویل: دا یوه بختوره او لویه ورځ ده چې الله تعالی په دې ورځ موسی علیه السلام او د هغه قوم له فرعون څخه وژغورل او فرعون او قوم یې الله تعالی غرق کړل، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (له تا سو نه مونږ ډیر حقدار یو چې دغه روژه ونیسو، ځکه موسی علیه السلام خو په مونږ هم زیات حق لري) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هم روژه ونیوله او خپلو صحابه‌وو ته یې هم د روژې نیولو امر وکړ. (مسلم)

دکور خرڅلاو اعلان!

وایې یو سـړي اراده وکړه چې خپل کور خرڅ کړي او یو ښـه کور ته لاړ شي، یو ملګري ته ورغی چې د رهنمای معاملات دکان یې درلوده چې اعلان ورته ولیکي، هغه د ده د کور په هکله هر اړخیز معلومات درلود، نو یو ښـکلی اعلان یې ورته ولیکه او د کور جزیات یې هم ورته په پوره تفصیل سره ذکر کړل، اعلان داسې ؤ:

له غره سره نږدې یو ختین کور دی، پراخې کوټې لري، په اوړي کې ډیرې یخې وي، او په ژمي کې معتدلې، سره دیو جریب حویلی، په داخل کې یې دابو څاه (کوهي) هم شـته چې پریمانه اوبه لري، مسـجد ته نږدې دی، او د پاخه سرک نه ورته پنځه دقیقې پیاده مزل دی، مخې ته یې یوه وړه غوندې باغچه ده، دمیلمنو دناسـتې لپاره، چې ټوله ورځ پکې د مرغیو آوازونه دسـړي روح ته سـکون او خوشـالي وربښـي، نږدې ورسره پټې دي چې همیشـه پکې د کاریز اوبه بهیږي، فضـا یې ډیره آرامه او صـفا ده چې نه پکې د بازار د کورونو په شان شور او نه پکې د موټرو غږ او هارنډونه، او نه پکې ګردونه او لوګي.

کله یې چې اعلان دکور خاوند ته ولوسـت، نو هغه ورته ډیر په اهتمام او دقت سره غوږ نیولی ؤ، دملګري نه یې وغوښتل چې دا اعلان یو وار بیا ورته ولولي، کله چې لیکونکي اعلان بیا ورته تکرار کړ، نو د کور خاوند چغه کړه چې دا څومره ښه کور دی، زه دا ټول عمر د دا سې یو کور ارمانجن وم، خو خبر نه یم چې فعلا زه پکې اوسیږم، بیا یې خپل ملګري ته وخندل او ورته یې وویل: مهرباني به دې وي، اعلان مه نشرـوه زه خپل کور نه خرڅوم.

دې کیسې ته چې سړی فکر وکړي، مونږ ته الله پاک ډیر زیات نعمتونه راکړي دي، خو مونږ فکر پکې نه کوو، او د نورو خلکو دنیا ته فکر وړي یو.

که مونږ فکر وکړو دنیوي ټول ضرور یات چې د الله عبادت ور با ندې وکړو پوره دي، صرف شل فیصده به کم وي چې هغه د انسان خواهشات دي، مونږ دا شل فیصده ته ژاړو، خو اتیا فیصده چې پوره دي ورته نه خاندو.

مونږ دي ته خفه یو چې د ګلانو لاندې ازغي دي او دې ته نه یو خو شاله چې د ازغو د پاسه ګلان دي (اظهار الحق عزیز څخه په مننې).

اختلاف وکړه خو د انصاف پولې مه نړوه

د اختلاف له آدابو نه یو ادب دا دی چې په اختلاف کې باید د عدل او انصـاف نه کار واخسـتل شـې، په دې معنی چې څومره د وینا او عمل په ډګر کې د مخالف لوري د مخالفت کچه وي، په همغې اندازه باید اختلاف ورسره ترسره شی، نه دا چې د یو چا د وړوکي او جزوي عمل په مقابل کې د اختلاف کچه هغې اندازې ته ورسـېږي چې د هغه د وینا او عمل د کچې نه څوچنده زیاته وي.

عدل په اسـلام کې هغه حکم دی چې د ژوند په ټولو برخو کې د مسـلمان نه د هغه د عملي کولو غوښـتنه کېږي، آن تر دې چې له خپل دښـمن سره به د دښـمنۍ په وجه هم د عدل نه انحراف نکوي:

الله متعال فرمایي: (لا یجرمنکم شنأن قوم علی أن لا تعدلوا اعدلوا هو اقرب للتقوی)

ژباړه: له یو قوم سره دښمني دې تاسو دې ته اړ نه باسي چې له هغوی سره د عدل نه کار وانه‌خلئ، له هر چا سره د عدل معامله کوئ، ځکه عدل، تقوی او پرهیزګارۍ ته نیږدې عمل دی.

د کورونو او ملکیتونو د ثبت پروسې پیلیدل

ګټې او زیانونه!

اصلاح رسنیيزګروپ/ نعمت الله عزیزي

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې اداري د معلوماتو پر بنسټ په ښارونو کې ۷۰ او په کلیو کې ۸۰ سلنه کورونه او ملکیتونه رسمي سندونه نه لري، افغان حکومت د دې ستونزې د حل په موخه تېره اونۍ د ولسمشر محمد اشرف غني په شتون کې د کابل ښار د لومړۍ ناحیې د خرابات کوڅې څخه د ملکیتونو د ثبتولو او سندونو ورکولو پروسه پیل کړې ده.

د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداري ژمنه کړې ده چې په څو راتلونکو کلونو کې به په ښارونو کې ټول کورونه او ملکیتونه ثبت کړي او خلکو ته به رسمي سندونه ورکړي، خو کارپوهان او د نظر خاوندان دا کار له ستونزو ډک ګڼي.

افغانستان چې د تېرو څلورو لسېزو جګړو په هر ډګر بې اغېزې نه دی پرې ایښې، د ځمکو غصب، د ملکیتونو او ځمکو د رسمي سندونو نه شتون، او تر ډېره په دې برخه کې په عرفي ډول د ځمکو په هکله پریکړو، ډېر کله خلک له ګڼو ستونزو سره مخ کړي او آن د قومونو او کورنیو ترمنځ د شخړو لامل ګرځېدلې دي چې لوی لامل یې د دولت له لوري په دې برخه کې د منظم پروګرام نه شتون په ګوته کېږي.

سره له دې چې د نظر د خاوندانو په اند د رسمي سندونو ورکول تر ډېره دا ستونزه هوارولای شي، خو باور لري چې باید په دې برخه کې خورا ډېره ځېرتیا په نظر کې ونیول شي تر څو حق حقدار ته ورسېږي او د زورواکو او چارواکو تر اغېز لاندې رانه‌شي.

دا چې دا کار به نورې څه ګټې ولري او په پایله کې به د غصب شویو کورونو او ملکیتونو برخلیک څنګه کېږي، آیا د رسمي سندونو پر اساس به د غاصبینو ملکیت ګڼل کېږي او که څنګه؟ دا او ځینې نورې مهمې پوښتنې مو د چارواکو، کارپوهانو او د ولسي جرګې له غړي سره څېړلې چې د لوستو بلنه یې درکوو.

د رسمي سندونو ورکولو ګټې:

دا چې په ښارونو کې ۷۰ سلنه او په کلیو او باندېو کې ۸۰ سلنه ځمکې او جایدادونه رسمي سندونه نه لري او غیر رسمي دي، اوس چې په ښارونو کې د کورونو او ملکیتونو د ثبت او سندونو ورکولو پروسه پیل شوې، دا کار څه اهمیت او ګټې لري؟

د کابل پوهنتون د ځمکې پېژندنې پوهنځي استاد دکتور سردار محمد کوهستاني وایي: "دا یو نیک او ښه ګام دي چې ډېرې ګټې لري." د نوموړي استاد په اند دا چې په هر هېواد کې چې کله ښاري پلانونه عملي کېږي نو د اوسېدنې ځای، د صنعت او د تفریح ساحه هر څه په کې معلوم وي، خو په افغانستان کې او بیا په ځانګړي ډول په کابل ښار کې په وروستیو کلونو کې ستونزې نورې هم ډېرې شوې دي.

د ښاغلي کوهستاني په وینا، که دولت وغواړي هر ښاري پلان عملي کړي او خلکو ته ټولنېز خدمتونه وړاندې کړي چې د دولت مکلفیت هم دی له جدي ستونزو سره مخ کېږي چې لویه ستونزه په کابل ښار کې د غیرې پلاني ساحو شتون دی.

د ځمکې پېژندنې د دې استاد په اند، بله ستونزه دا ده چې د سندونو نه شتون د دې لامل هم شوی دی چې د شخصي- او دولتي ځمکو توپیر ستونزمن شي، او د دولت پلانونه هم وننګوي، چې په دې اساس هم دولت او هم خلک همیشه زیانمن شوي، آن تر دې چې په دغسې ځایونو کې خلک د ژوند لومړنیو او اساسي آسانتیاوو (برښنا، سړک، د څښاک اوبه، کانالاسیزسیون، ښوونځی او روغتون) ته لاسرسی نه لري او له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

د ښاغلي کوهستاني په خبره، اوس چې د سندونو ورکولو پروسه پیل شوې ده، هم دولت ته او هم خلکو ته ګڼې ګټې درلولای شي؛ له یوې خوا به دولت وکولای شي د یو منظم پروګرام له لارې خپل پلانونه عملي کړي او له بلې خوا به خلک هم آسانتیاوې تر لاسه کړي.

د کابل پوهنتون دا استاد همدارنګه وایي: "دا کار دومره آسانه هم نه دی او ډېر وخت نیسي." خو نوموړی ټېنګار کوي چې باید دواړه اړخونه (دولت او خلک) له یو بل سره مرسته وکړئ او په باور یې دولت چې څه پلانونه عملي کوي، د خلکو لپاره او د هغوي په ګټه دی، نو باید خلک ورسره ډېره مرسته وکړئ.

د ولسي جرګې د مواصلاتو، مخابراتو، ښاري پراختیا، دکور، بریښنا، اوبو برابرولو اوښاروالۍ چارو کمیسیون غړی حاجي علي محمد شهیدي په دې هکله وایي: دا ډېر نیک ګام دی او دا د ولسمشر ډېر ښه نظر دی.

د نوموړي په وینا، دا چې په کابل او نورو ښارونو کې ۷۰ تر ۸۰ سلنه کورونه غیر پلاني دي او داسې هم نشي- کېدای چې ټول ونړول شي، نو د سندونو په ورکولو به له یو اړخه خلک په خپلو کورونو او کوڅو باندې ډاډمن شي او دولت ته به هم یو څه ګټه په لاس ورشي.

په ولسي- جرګه کې د لوګر د خلکو د دې استازي په نظر، مخکې به خلک په خپل کور او ځمکه باندې ډاډمن نه وو او د یو ډول ډار او انتظار په حال کې به وو چې که زه په دې کور باندې لګښت وکړم کېدای شي یو وخت یې دولت راڅخه واخلي. خو د نوموړي په وینا اوس چې دا ستونزه حل کېږي له یو لوري به خلک د سندونو په ترلاسه کولو ډاډمن شي او له بلې خوا کله چې خلک په دې وپوهېږي چې دا مې کور او کلی دی، نو بیا په ټولنېز ژوند کې هم اصول مراعات کوي او ټولنېزې ستونزې به هم ورسره را کمې شي.

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې اداري د پلان او پالیسۍ رئیس او د دې اداري ویاند غلام حسین رحماني وایي: "دا چې وایو ۸۰ سلنه زمکې په کلیو او باندېو کې او ۷۰ سلنه یې ښارونو کې رسمي سندونه نه لري د دې پروسې په پیل کیدو سره دا ټول د ملکیت رسمي سندونه ترلاسه کوي او ډېټابیس ته رسېږي چې دا خپله له اقتصادي، حقوقي او هم د امنیت له اړخه اغېزې لري."

د نوموړي په وینا، له اقتصادي اړخه یې ګټه داده چې کله یو شخص د رسمي سندونو له مخې د ملکیت مالک ګڼل کېږي، په اقتصادي برخه کې کولای شي خپله ونډه ولري (قرضه ترلاسه کړي، پانګونه وکړي او د کارموندنې په برخه کې هم خپل رول ولوبوي.)

له بل پلوه د ښاغلي رحماني په وینا، تر اوسه د غیرې رسمي ځمکو په برخه کې مشخصه احصاییه شتون نه لري چې د دې پروسې په بریالیتوب سره، کولای شو له دې احصاییې د اقتصادي پلانونو د عملي کولو په وخت ګټه واخلو.

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې ادارې د ویاند په اند، ملکیتونو ته د سندونو ورکول له امنیتي اړخه هم مثبت اغېز لري او په باور یې، کله چې ملکیت ثابت شي مالک له خپل ملکیت نه دفاع کوي او د قانون پر وړاندې ځان مسؤول ګڼي او دا باور پیدا کوي چې د همدې ملکیت او کور په حساب امتیازات ورکول کېږي او د سرغړونې په صورت کې ورسره حساب هم کېږي.

د ښاغلي غلام حسین رحماني په وینا، دا پروسه چې په نمونه‌ای ډول د کابل ښار د لومړۍ ناحیې څخه پیل شوې، د پنځه کلن پلان پر اساس به ټول هېواد د دې پروسې تر سیوري لاندې راوستل شي.

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې ادارې ویاند ټېنګار کوي چې باید له هېوادوالو سره داسې اندیښنه پیدا نه شي چې ګواکې دا پروسه فساد او غصب ته د لارې هوارولو لپاره رامنځته شوې، بلکې باید باور ولري چې دا پروسه د فساد او غصب نه د مخنیوي په موخه عملي کېږي او د ملي احصایې د رامنځته کولو لپاره هڅه کېږي.

اصلي مالکین څنګه وپېژندل شي؟:

یوه ستونزه دا مطرح کېږي چې د ځمکو د تثبیت لپاره باید څه مراحل په نظر کې ونیول شي، ځکه ډېرې ځمکې غصب شوې دي او د اصلي مالک او غاصب تر منځ شاید توپیر ونه شي، دا چې په دې برخه کې څه باید وشي؟ بیا هم د کابل پوهنتون د ځمکې پېژندنې پوهنځي استاد دکتور سردارمحمد کوهستاني وایي: دا چې که ځمکه شخصي مالک ونه لري، دولت یې مالک دي، خو په خبره یې وروستیو څو لسیزو کې چې په هر ډول ؤ ډېرې ساحې د دولت له کنټرول نه بهر شوې او په یو ځلي د خلکو فشار او نفوس زیات شو او خلکو په هر ځای کې کورونه جوړ کړل.

د ښاغلي کوهستاني په نظر، دا باید په څو ډلو و ویشو چې یو ډله یې زورواکي دي او لویې ساحې او ځمکې یې نیولې دي او نیسي یې او شاید د دولت له کنټرول نه هم بهر وي چې له دوی سره حساب وکړي. یوه بله ډله داسې مجبور خلک دي چې د سرپناه لپاره د مجبوریت له مخې او د ژوند د لومړنیو آسانتیاوو د ترلاسه کولو په موخه په ښارونو او په ځانګړي ډول کابل کې میشت شوي چې باید د دې دواړو ډلو تر منځ توپیر شتون ولري چې یوه ډله ډېره پانګه لري خو بل اړخ بېوزله خلک دي چې د سرپناه د درلودو په موخه یې یو ځای کور جوړ کړی دی، نو نه‌شي کېدای چې دا هم تري واخیستل شي او د پلانونو د عملي کېدو لپاره ونړول شي.

ښاغلی سردارمحمد کوهستاني ټېنګار کوي چې که چېرې په هغو ساحو کې چې خلکو پر خپل سر د مجبوریت له مخې کورونه جوړ کړي دي او دولت غواړي ښاري پلانونه عملي کړي، نو باید د خلکو حق هم په نظر کې ونیول شي؛ یا ځمکه په قانوني ډول ورکړل شي، یا همدا ځمکه قانوني شي. خو د نوموړي په وینا، باید د خلکو نه هم ژمنه واخیستل شي تر څو له دولت سره د پلانونو په عملي کولو کې مرسته وکړئ.

په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازي حاجي علي محمد شهیدي، د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا له ولسي جرګې سره داسې څه اندیښنه شته چې په دې پروسه کې به غاصبینو ته هم رسمي سندونه ورکړل شي او په غیر قانوني ډول به د قانوني ځمکې خاوندان شي؟ هغه وایي: "په کابل ښار کې ځینې سیمې دي چې چور شوې دي او خلکو په‌کې کورونه جوړ کړي دي، خو بل لوري ته هغه غاصبین دي چې په سلګونو جریبه ځمکې یې غصب کړې ده، نو دا په دې معنا نه ده چې په دې پروسې سره به هغوي ته هم سندونه ورکړل شي."

نوموړی ډاډ څرګندوي چې دولت به هیڅکله داسې کار ونه کړي چې غاصبینو ته سندونه ورکړي او دا کار هیڅ امکان نه لري او غاصبین باید دا تمه ونه لري چې ولسمشر به دوی ته هم د ځمکو سندونه ورکړي، بلکې د ښاغلي شهیدي په اند، باید له غاصبینو سره ډېر جدی برخورد وشي.

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې ادارې ویاند حاجی غلام حسین رحماني وایي: دا مسئله باید روښانه شي چې د اوسېدنې ملکیتونه د کرهنېزو ځمکو سره ګډ نه شي او په خبره یې دا پروسه یوازې د اوسېدنې د ملکیتونو د ثبت پروسه ده او کرهنېزې ځمکې د افغانستان د جمهوري ریاست د ۴۵ ام فرمان پر اساس چې په‌کې ورته ګڼې او جامع لارې چارې په نظر کې نیول شوې دي، تر نظر لاندې دي.

همدارنګه نوموړی څرګندوي چې د غصب د مخینوي لپاره پنځه کلنه ستراتېژي شتون لري چې د ځمکو او اوبو په عالي شورای کې پرې خبرې شوې او په نږدې راتلونکې کې به د کابینې له مجلس نه هم پاس شي او د هغه مطابق به عمل کېږي.

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې ادارې ویاند غلام حسین رحماني وایي: "په ټول افغانستان کې ۳۵۵ ښارګوټي دي چې په غصب شوې ځمکه جوړ شوي دي چې هغه د غاصبینو په لیست کې راغلی دي او غاصبینو ته د افغانستان د جزاء په قانون کې جزاء په نظر کې نیول شوې ده."

د افغانستان د ځمکو د خپلواکې ادارې د پلان او پالیسۍ رئیس په وینا، پیل شوې پروسه یوازې د کورونو او په ښارونو کې د اوسېدنې د غېر رسمي ملکیتونو موضوع ده چې کلونه راهېسې خلکو کورونه جوړ کړي او په‌کې اوسېږي، خو سندونه نه لري او که وغواړي چې پانګونه وکړي، بانک ته مراجعه کوي تر څو کوچنۍ قرضې ترلاسه کړي، خو کور یې رسمي سند نه لري او د بانکي ضمانت په توګه نه‌شي کارېدلای چې په دې پروسې سره دا ستونزه حل کېږي.

نور باید څه وشي؟

د ملي یووالي حکومت د دې پراختیایي پروسې په هکله مو غوښتنه او وړاندیز څه دی، دولت په دې برخه کې نور باید څه وکړئ؟

د کابل پوهنتون د ځمکې پېژندنې پوهنځي استاد دکتور سردار محمد کوهستاني ټېنګار کوي چې که چېرې خلکو ته د دې پروسې د ښیګڼو او ګټو په هکله لازم پوهاوی او معلومات ورکړل شي، خلک مرسته کوي حتي که د قومونو تر منځ د ځمکې پر سر ستونزې هم وي، که هغوی ته لازم معلومات ورکړل شي هغوی به د دې پروسې په کامیابولو کې پوره برخه واخلي.

نوموړی استاد همدارنګه په دې برخه کې د قومي مشرانو، لویانو، سپین‌ږیرو، ملکانو، او دیني علماوو رول اړین ګڼي او باور لري چې د ډېرو نورو ستونزو د حل په څېر، د یادو کسانو په مرسته په آسانۍ سره حل کېږي.

د کابل پوهنتون دا استاد باور لري چې که چېرې خلکو ته د دې پروسې ګټې او ښیګڼې پر ګوته شي او مرحله په مرحله پر وړاندې لاړ شي، کومه ستونزه به رامنځته نه شي، خو په وینا یې که دولت په یو اړخېز ډول وغواړي دا پلان عملي کړي، دا چې د خلکو د معلوماتو او زده کړې کچه ډېره ټیټه ده، کېدای شي ستونزې رامنځته شي چې په هغه حالت کې به هم خلک او هم دولت زیانمن شي.

په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازی او د دې جرګې د مواصلاتو، مخابراتو، ښاري پراختیا، دکور، بریښنا، اوبو برابرولو اوښاروالۍ چارو کمیسیون غړی هم ټېنګار کوي چې باید دولت ټولې غیر شخصي ځمکې تر خپل واک لاندې راولي او که څوک په کې ښارګوټي جوړوي، باید له قانونې لارو خلکو ته په واک کې ورکړل شي، تر څو دا ستونزه په اساسي ډول حل شي.

و آنگاه که ملتی بیدار شود...

نوشته: دکتر ابراهیم الترکاوی

برگردان: عبدالرحمن عزام

کسی که به حال امت اسلامی- و آنچه در بیشتر کشورهای اسلامی از ایستایی و دیرینگی می گذرد - و یا به چگونگی دنیای اطراف ما – و آنچه از دگرگونی، پیشرفت و نوآوری در بیشتر کشورهای آن به نظر می رسد - می‌اندیشد؛ ممکن است این سوال – که از دو بخش وابسته به هم تشکیل شده- او را پیش آید: ستمکاران چه وقت می دانند و ملت‌ها چه زمانی بیدار می شوند؟

هرگاه جهت دانستن رمز این راز، بر گذر زمان و امتداد تاریخ، در روشنایی قرآن نگریسته شود، در خواهیم یافت که:

چه بسا سرکشان و ستم پیشگانی که در پی هم آمده و با غفلت بر روی زندگی پیشینیان خویش، پاگذاشته و از سرنوشت شان جهت پند و اندرز بهره‌ای نبرده اند.

قرآن در این زمینه به زبان حال ایشان را مورد خطاب قرار داده بیان می دارد:«وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُواْ أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الأَمْثَالَ» (ابراهیم/٤٥)

(و در سرزمین و دیار مردمان ظالمي [همچون عاد و ثمود] سکونت گزیدید و [عبرت نگرفتید، هرچند که] برایتان روشن بود که در حق آنان چگونه رفتار کردیم [و بر سر ایشان چه آوردیم،] و مثالها برایتان زدیم [مبني بر این که گذشتگان چه کردند و در مقابل چه دیدند، امّا پند نگرفتید و امروز گرفتار شدید]).

حوادث و نشانه‌های بزرگی که زمین را به حرکت در می‌آورد و کوه‌ها را از جای بر می‌کند، بر سرکشان و اطرافیان شان می‌گذرد؛ اما هیچ یک از ایشان، این پیش آمدها را درک ننموده کماکان در گمراهی و کجروی خود روان، و در طغیان و سرکشی خویش سرگردان اند.

قرآن در ذیل چند آیه به موضوع اشاره نموده می فرماید:

«أَوَلاَ يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لاَ يَتُوبُونَ وَلاَ هُمْ يَذَّكَّرُونَ» (توبه/ ١٢٦) (آیا منافقان نمي بینند که در هر سالي، يك یا دو بار مورد آزمایش قرار مي گیرند بعد از آن توبه نمي کنند و عبرت نمي گیرند و بیدار و هوشیار نمي شوند).

«وَ كَأَيِّن مِّن آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ» (یوسف/١٠٥) (و چه بسیار دلائل و نشانه‌هایی در آسمانها و زمین وجود دارد که آنان (کورکورانه) از کنارشان مي گذرند و از پذیرش آنها روي مي‌گردانند).

هرگاه از راز این کودنی، غفلتِ دوام دار و پرده ی حقیقت پوش روی چشمان شان، پرسان نماییم، جواب قرآن را چنین می یابیم:«حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ» (قمر/٥) ([این آیات] عبرتهاي بسنده و اندرزهاي رسائي هستند [که مي توانند در روح و جان شنوندگان و بینندگاني که آماده پذیرش حق و حقیقت باشند، اثر بگذارند] امّا بر حذر داشتنها و بیم دادنها[ي قرآني براي افراد لجوج بي‌فایده است و به حال آنان] سودي ندارد.)

همچنان:«وَمَا تُغْنِي الآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لاَّ يُؤْمِنُونَ» (یونس/١٠١) [آیات خواندني کتابهاي آسماني، از جمله قرآن، و دیدني جهان هستي] و بیم دهندگان [پیغمبر نام، و اندرزها و انذارها هیچ کدام] به حال کساني سودمند نمي افتد که نمي خواهند ایمان بیاورند.)

و یا هم می فرماید:«وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَا أُوْلَئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ» (اعراف/١٧٩) (بسیاري از جنّیان و آدمیان را آفریده و [در جهان] پراکنده کرده‌ایم که سرانجام آنان دوزخ و اقامت در آن است. [این بدان خاطر است که] آنان دلهائي دارند که بدانها [آیات رهنمون به کمالات را] نمي فهمند، و چشمهائي دارند که بدانها [نشانه هاي خداشناسي و یکتاپرستي را] نمي بینند، و گوشهائي دارند که بدانها [مواعظ و اندرزهاي زندگي ساز را] نمي‌شنوند. اینان همسان چهارپایانند و بلکه سرگشته ترند [چرا که چهار پایان از سنن فطرت پا فراتر نمي گذارند، ولي اینان راه افراط و تفریط مي پویند]. اینان واقعاً بي خبر [از صلاح دنیا و آخرت خود] هستند.)

و در جایی دیگر:«أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ» (حج/٤٦) (آیا در زمین به سیر و سفر نپرداخته اند تا [از دیدن آثار گذشتگان و مشاهده

ویرانه هاي کاخهاي ستمگران] دل هايي به هم رسانند که بدانها [وظیفه‌ی خود را در قبال دعوت حق، درك و] فهم کنند، و گوش‌هايي داشته باشند که بدانها [اخبار جبّاران، و نداي وجدان، و فرمان یزدان را] بشنوند؟ چرا که این چشمها نیستند که کور مي گردند، و بلکه این دل‌هاي درون سینه ها هستند که نابینا مي شوند.)

وقتی که آیات الهی و بیم دهندگان او، به حال کسانی که دل های شان را به غلاف کشیده، چشمان شان را به کوری و گوش‌های شان را به ناشنوایی زده اند، سودی ندارد، بر تو است که چنین سوالی را بارها و بارها مطرح نمایی که: پس طغیان گران چه زمانی به حقیقت می رسند و به واقعیت پی می‌برند؟!

به طور نمونه؛ در این هنگام، جواب یک رئیس جمهور معزول و برکنار شده بعد از اینکه همه راه‌ها بر او بسته و از جانب ملت خویش در احاطه قرار می‌گیرد؛ در حالی که لرزان و بااضطراب بر سر پا های در هم پیچیده‌ی خویش ایستاده و در آخرین سخنان خویش قبل از کوچیدن و رخت سفر بربستن از دیارش، بیان می دارد؛ چنین است: «حالا خواسته‌ی شما را دانستم»

آری، حالا ما هم دانستیم، و یقین حاصل نمودیم. درست همانطوری که تو و دیگران دانستید.

براستی، پس طغیان پیشه‌گان و سرکشان، چه وقت به حقیقت می رسند؟

حاکمان زورمند و مستبد، فقط یک زبان می‌فهمند و بس، و آن هم زبانی که ملت ها را به خواری و خفت کشانده، دهن‌ها را می بندد و نَفَس‌ها را در سینه‌ها حبس می‌کند.

سرکشان، هرگاه با خواری و زبونی مغلوب ملت‌های شان قرار گرفته و همه درها بروی شان مسدود و از هر طرف در احاطه در آیند؛ حقیقت را درک می‌کنند؛ آن هم با زبان زورمندی و قهر.

در این هنگام، طاغیان خواسته‌های ملت شان را دانسته و با حالتی مملوء از ذلت و خواری ندا در می‌دهند:«حالا خواسته‌ی شما را دانستم» و آن هم در ست زمانی که وقت از د ست رفته و فهم و به حقیقت رسیدن، ایشان را از چیزی بی‌نیاز نمی‌کند.

طاغیان بسان پیشوای بزرگ شان (فرعون)، زبان قهر و زور را می دانند و بس، آری، فرعون در حالی‌که از همه جوانب احاطه شده و قدرتی فوق همه‌ی قدرتها او را در بر گرفته و در حال غرق شدن بود؛ بر ایشان (پیروان خویش) پیشی جسته گفت: «آمَنتُ أَنَّهُ لا إِلهَ إِلاَّ الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَاْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ» (یونس/۹۰) (ایمان دارم که خدائي وجود ندارد مگر آن خدائي که بني اسرائیل بدو ایمان آورده اند و من از زمره فرمانبرداران [و مطیعان فرمان یزدان] هستم.)

ولی حالا،«آلآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ» (یونس/۹۱) (آیا اکنون، و حال آن که قبلاً سرکشي ـ مي‌کردي و از زمره‌ی تباهکاران بودي).

سرکشان و حاکمان ستمگر وقتی به حقیقت اذعان می دارند که ملت‌ها از خواب غفلت بیدار شده و بدانند که یوغ ظلم و ستم، از دوش شان برداشته نمی شود؛ مگر آنگاه که خود بخواهند و با شتاب در رفع آن تلاش و در از بین بردنش جدوجهد نمایند؛ و این چیزی است که قرآن به یقین بیان می دارد:«إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ» (رعد/۱۱) (خداوند حال و وضع هیچ قوم و ملّتي را تغییر نمي دهد [و ایشان را از بدبختي به خوشبختي، از ناداني به دانایي، از ذلّت به عزّت، از نوکري به سروري، و... و بالعکس نمي کشاند] مگر این که آنان احوال خود را تغییر دهند.)

«وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا» (عنکبوت/٦٩) (کساني که براي [رضایت] ما به تلاش ایستند و در راه [پیروزي دین] ما جهاد کنند، آنان را در راه هاي منتهي به خود رهنمود [و مشمول حمایت و هدایت خویش] مي گردانیم.)

آنچه موجب سرکشی و ستم پیشگی زمام‌داران شده، همانا قبول خفت و خواری از جانب ملت‌ها و انحراف از مسیر درست است؛ آنطوری که قرآن، قوم فرعون را به تصویر می کشد؛«فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْماً فَاسِقِينَ» (زخرف/٥٤) (فرعون [براي ادامه خودکامگي خود] قوم خویش را فرومایه و ناآگاه بارآورد [و آنان را در سطح پایینی از فرهنگ و رشد فکري نگاه داشت] و ایشان هم از او فرمانبرداري و پیروي کردند. آنان قومي فاسق [و خارج از اطاعت فرمان خدا و حکم عقل] بودند.)

هرگاه ملت‌ها بدانند که در پیشگاه خداوند متعال بار مسؤولیت سرکشی ستم پیشه‌گان بر دوش آنها است، از خواب غفلت برخاسته و برای عزت خویش تلاش می نمایند. بت‌های دست و پاگیر شان را شکسته و خود و میهن شان را از اشغال اشغال‌گران آزاد خواهند نمود.

و در این هنگام و نه زمانی دیگر، سرکشان، ستم پیشه‌گان و حاکمان ستمگر خواهند دانست و به حقیقت پی خواهند برد.

هرگاه ملت‌ها بیدار شدند، سرکشان را چاره ای نیست جز اینکه به حقیقت اذعان دارند و بر خلاف میل شان آن را بپذیرند.

درواقع ظلم و ستم را فقط کسانی از بین می برند که مدت‌ها این ستم بر آنان روا داشته شده و سالها این یوغ را بر گردن کشیده اند.

باسپاس از مجله‌ی معرفت



د حزب اسلامي
افغان حکومت د روغې تړون؛
مخینه او راتلونکی

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

د حزب اسلامي او افغان حکومت تر منځ د سولې هوکړه‌لیک د دغه گوند د مشر انجنیر گلبدین حکمتیار او افغان ولسمشر اشرف غني له‌خوا د تلې په ۸مه نېټه لاسلیک شو. دغه هوکړه‌لیک له نهایي لاسلیک یوه اوونۍ وړاندې د تلې په لومړۍ نېټه، د حزب ا سلامي (حکمتیار) د ا ستازي او حکومت سره د دغه گوند د خبرو اترو د پلاوي مشر انجنیر امین کریم او د افغانستان د ملي امنیت سلاکار وزیر حنیف اتمر له‌خوا لاسلیک شوی و.

د سولې د هوکړه‌لیک د لاسلیک کولو په موخه، ارگ ته یوه ستره غونډه رابلل شوې وه او افغان ولسمشر اشرف غني، پخواني ولسمشر حامد کرزي، اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله، د ولسمشر او اجرائیه رییس مرستیالانو سرور دانش، انجنیر محمد خان، محمد محقق، پخوانیو جهادي رهبرانو، د حزب اسلامي (حکمتیار) پلاوي او غړو، بهرنیو دیپلوماتانو او یو شمېر نورو خلکو گډون کړی و.

په دغه غونډه کې حکمتیار د مخکې ثبت شوې وېډیو له لارې د غونډې گډونوالو ته خپله وینا واوروله او بیا یې د سولې هوکړه‌لیک لاسلیک کړ. د افغان حکومت په استازیتوب دغه هوکړه‌لیک ولسمشر غني لاسلیک او غونډې ته یې خپله وینا هم واوروله. ترڅنگ یې ډاکتر عبدالله، امین کریم، پیر سید احمد گیلاني، غیرت بهیر او مېرمن بلخي هم خبرې وکړې.

دا چې د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې د خبرو اترو مخینه څه ده، د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راوروسته دغه بهیر څه ډول روان و او په هېواد کې به د حزب اسلامي گوند راتلونکی څه وي؟ دلته پرې شننه کوو.

د حزب اسلامي گوند مخینه

حزب اسلامي په افغانستان کې یوه له هغو ډلو څخه ده، چې د څلورو لسیزو تاریخ لري او پیل یې د جمعیت اسلامي په شان له اسلامي نهضت سره تړل شوی دی. له شورویانو سره د جهاد پرمهال هم حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د نورو جهادي ډلو په پرتله په هېواد کې پراخ نفوذ درلود. د کورنیو جگړو پر مهال کله چې طالبان د افغانستان په سیاسي پرده راڅرگند شول، د حزب اسلامي ډلې فعالیتونه په هېواد کې ودرېدل او د دغه گوند مشر انجنیر گلبدین حکمتیار له افغانستانه ووت.

که څه هم د طالبانو د واکمنۍ پرمهال حزب اسلامي د افغانستان په قضیه کې ډېر رول نه درلود؛ خو کله چې له ۲۰۰۱ کال وروسته پر افغانستان د امریکایي او ناټو ځواکونو د بریدونو په تعقیب، په هېواد کې د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د نوي نظام بنسټ کېښودل شو، نو انجنیر گلبدین حکمتیار افغانستان ته د بهرنیو سرتېرو راتگ د هېواد«اشغال» وباله او په دې توگه یې د حزب اسلامي ترنامه لاندې د بهرنیو ځواکونو پرضد وسله‌واله مبارزه پیل کړه. مگر له ۲۰۰۱ کال راهیسې د حزب ا سلامي ډېری غړي په تدریجي ډول او بېلابېلو وختونو کې کابل ته راغلل او بیا د افغان حکومت برخه شول.

د افغان حکومت او حزب اسلامي د خبرو اترو مخینه

که څه هم په کره ډول معلومه نه ده، چې د انجنیر گلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې د حزب اسلامي غړو له څه وخت راهیسې د سولې په تړاو له افغان حکومت سره خبرې اترې پیل کړې؛ خو د رسمي اعلامیو له مخې، چې د غه خبرې اترې په ۱۳۸۹ کال کې پیل شوې. دا چې له دې نېټې وړاندې هم د دغه گوند یو شمېر غړي کابل ته راغلل، نو دا خبره لاهم د بحث وړ ده چې ایا دوی په خپله خوښه راغلي وو او که د حکمتیار په خوښه؟

د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د رسمي خبرو اترو په تړاو یوې سرچینې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز ته وویل، چې کله د حزب اسلامي د سیاسي کمیسیون مشر او د انجنیر گلبدین حکمتیار زوم او هغه ته نژدې کس ډاکتر غیرت بهیر په ۱۳۸۷ کال کې له زندانه راخوشې شو، نو تر څو ورځو پورې په ارگ کې د افغان ولسمشر حامد کرزي مېلمه و او له هماغه وخت راهیسې د ډاکتر غیرت بهیر له لارې د حکمتیار په مشرۍ له حزب اسلامي سره اړیکې ټینگې شوې وي. خو د رسنیزو معلوماتو له مخې، د افغان حکومت او دغه گوند اړیکې په امریکا کې د بارک اوباما له ولسمشر کېدو سره له ۱۳۸۹ کال وروسته له افغانستانه د امریکایي سرتېرو د ایستلو په اعلان سره پیل شوې.

حزب اسلامي په ۱۳۸۹ کال کې له همدغه نوي اعلان او د حامد کرزي-امریکا د خرابو اړیکو له فرصت څخه په استفادې سره، کابل ته د سولې د خبرو اترو په موخه یو پلاوی واستاوه، چې مشري یې ډاکتر غیرت بهیر او قطب الدین هلال کوله. حزب اسلامي هغه مهال سولې ته د رسېدو لپاره یوه ۱۵

مادهيي طرحه وړا ندې کړه، چې مهم ټکي يې په لاندې ډول وو:

۱. بهرني سرتېري بايد په شپږو مياشتو کې له هېواده ووځي؛
۲. بهرنيان بايد امنيتي واک افغان ځواکونو ته وسپاري؛
۳. بهرنيان به د هېواد دننه بنديخانې نه جوړوي؛
٤. دغه مهال به ښکېلې غاړې اوربند اعلانوي؛
۵. د امريکايانو له وتلو وروسته به نور بهرني جنګيالي هم له هېواده وځي؛
٦. د بهرنيو سرتېرو له وتلو وروسته به نوې پارلماني او ولسمشريزې ټاکنې کېږي او تر نويو ټاکنو پورې به اوسنی ولسمشر او پارلمان دوام مومي.

د حامد کرزي حکومت د حزب اسلامي دغه وړاندیزونه منل او دغه خبرې اترې ناکامې شوې. وروسته د ۱۳۹۱ کال په حمل کې د حزب اسلامي پلاوی د سولې د خبرو اترو په موخه داسې مهال کابل ته راغی، چې د طالبانو د قطر دفتر د پرانيستلو اوازې پيل شوې وې او افغان حکومت د قطر دفتر له پرانيستې او د افغان طالبانو او امريکايانو ترمنځ د مخامخ خبرو مخالف و. د حزب اسلامي دغه پلاوي يو ځل بيا د سولې په تړاو خپله طرحه وړاندې کړه، چې بيا هم افغان حکومت څه غبرګون پرې ونه ښود.

د ملي يووالي حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې هوکړه‌ليک

په افغانستان کې د ملي يووالي حکومت له جوړېدو سره، حزب اسلامي ډلې خپل پلاوی کابل ته راولېږه او د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې خبرې اترې پيل شوې. خو هغه مهال د افغان حکومت ډېره پاملرنه له پاکستان سره د اړيکو رغول او له افغان طالبانو سره سوله کول وو؛ مګر کله چې څلور اړخيزې خبرې اترې د ناکامېدو په لور ولاړې، نو د څلور اړخيزو خبرو اترو د درېيمې ناستې په اعلاميه کې حزب اسلامي هم د خبرو اترو ترو برخه وګڼل شوه.

حزب اسلامي (حکمتيار) د ۲۰۱٦ کال د مارچ په ۱۲مه د يوې رسمي اعلاميې په خپرولو سره څرګنده کړه، چې افغان ولسمشر اشرف غني حزب اسلامي ته د سولې په خبرو اترو کې د شامېلېدو بلنه ورکړې او دغه ګوند هم د ولسمشر غني دا غوښتنه منلې ده. له هماغه مهاله د افغان حکومت او حزب اسلامي ترمنځ د سولې خبرې اترې تودې شوې؛ خو د هېواد دننه يو شمېر سياسي ډلو په دغو خبرو اترو کې د خنډونو جوړولو هڅې وکړې او له کبله يې دا خبرې اترې له څو مياشتنې ځنډ سره مخ شوې.

د حزب اسلامي او ملي يووالي حکومت د سولې هوکړه ليک درې فصله او ۲۵ مادې لري. په لومړي فصل کې د قانون جوړونې، د بهرنيانو وتلو او د ډېموکراسۍ پر اصولو (ټاکنو) خبرې شوې دي. په دويم فصل کې هغه مادې دي، چې حکومت يې ژمنې کوي او په درېيم فصل کې بيا هغه مادې دي، چې حزب اسلامي يې په اړه ژمنې کوي.

په عمومي ډول په دغه هوکړه‌ليک کې د بهرنيانو له وتلو څخه ملاتړ شوی، د اساسي قانون په منلو، له تور لېست څخه د حزب اسلامي د مشر او غړو د نومونو لرې کولو، د اوربند اعلانولو او د دواړو خواو لخوا د بنديانو خوشې کولو په تړاو ټينګار شوی.

دا چې د ژمنو د عملي کېدو په تړاو په هوکړه‌ليک کې د کوم تضمين يادونه نه ده شوې، نو د ژمنو عملي کېدل او راتلونکې درې مياشتې به ښايي دواړو لورو ته له ننګونو ډکې وي؛ افغان حکومت ته يوه ننګونه دا ده چې آيا دوی به وتوانېږي، د حکمتيار او د دغه ګوند د نورو غړو نوم ژر تر ژره د ملګرو ملتونو او نورو هېوادونو له تور لېست څخه وباسي. ترڅنګ يې حکومت بايد په راتلونکو درېيو مياشتو کې د حزب بنديان له زندانه خوشې کړي.

له بله پلوه، د حزب اسلامي امير ته د پروتوکول ورکولو د څرنګوالي او په حکومتي مرکزونو کې د حزب اسلامي ګډون او شتون په څېر يو شمېر نور جزئي اختلافي ټکي هم تراوسه د دواړو لورو ترمنځ ناحل شوي پاتې دي او د حزب اسلامي د پلاوي او سولې عالي شورا له‌خوا په راتلونکي کې حل شي.

که څه هم له حزب اسلامي سره د روغې جوړې تړون د ملي وحدت حکومت لپاره يوه لاسته راوړنه بلل کېږي؛ خو له حکومت سره د دغه ګوند يو ځای کېدل به د جګړې په ډګر ډېر اغېز ونه کړي او له حزب اسلامي سره د هوکړه‌ليک لاسليک کېدل په دې معنا هم نه دي چې په دې توګه به له طالبانو سره، چې د جګړې د ډګر ځواکمنه ډله ده، د سولې مخامخ خبرو اترو ته زمينه برابره شي. داسې نظرونه هم شته چې ښايي دا هوکړه به له طالبانو سره د روغې جوړې خبرې نورې هم ستونزمنې کړي؛ ځکه حکومت به له طالبانو سره هم د حزب اسلامي په څېر اسانه شرايطو باندې د روغې جوړې په فکر کې وي؛ کوم څه چې ښايي طالبانو ته ممکن نه وي.

په هېواد کې د حزب اسلامي راتلونکی

په عمومي ډول په هېواد کې د حزب اسلامي راتلونکی له دوو خبرو سره تړل شوی:

لومړی دا چې آيا د حزب اسلامي مشر انجنير ګلبدين حکمتيار به وکولای شي، چې د حزب اسلامي تر نامه لاندې وېشل شوې ډلې او فعاليت کوونکي تر يوه حزب لاندې راټول کړي؟

دويم دا چې د حزب اسلامي راتلونکی چلند به له طالبانو او د هېواد دننه يو شمېر نورو سياسي ډلو سره، چې دغه حزب ورسره زړې دښمنۍ لري، څرنګه وي؟

انجنير ګلبدين حکمتيار له حکمت سره د سولې تړون د لاسليک مراسمو ته په ثبت کړې وېډيو کې له يوې خوا طالبانو ته د ورته روغې جوړې بلنه ورکړه او له بلې خوا يې د هغوی روانه وسله‌واله مبارزه هم ناسمه وبلله، کوم څه چې ښايي د طالبانو پر ليکو به له رواني پلوه منفي اغېزې هم ولري. خو طالبانو بيا تل د حکمت له‌خوا د سولې وړاندیز ته د تسليمېدو په سترګه کتلي او دا وړا ندیز يې رد کړی. د دې ترڅنګ به انجنير حکمتيار کابل ته له راتګ وروسته له شک پرته له خپلو سياسي مخالفينو سره هم مخ وي او د حزب اسلامي په نوم پا شل شويو ډلو راټولو ترڅنګ به د طالبانو او نورو سياسي مخالفينو پر وړاندې د حکمتيار تګلاره د دغه ګوند لپاره برخليک ټاکونکې وي.

عاشورا

روز بزرگ در قلب تاریخ!

عزیز احمد حینف

روز دهم محرم الحرام(ماه نخست هجری قمری)، یکی از روزهای بزرگ در ادیان اسلام و یهودیت و یکی از مناسبت‌ها و فرصت‌های ویژه‌ی است که در فرهنگ اسلامی به هدف بازگشت به خویشتن، تجدید تعهد با خدای متعال، درک و تشخیص مسیر واقعی بندگی و هدف‌مندانه گام برداشتن در جاده‌ی توحید و یکتاپرستی با انجام سنت‌های خاص از آن تجلیل می‌شود.

دلیل نام‌گذاری:

عاشورا، کلمه‌ی عربی به معنای دَهُم است؛ روز دَهم هر ماه را در زبان عربی، عاشورا گویند؛ اما دهم ماه نخست هجری قمری به لحاظ عَظمت دینی‌ای که دارد، در میان مسلمانان به حدی بر سرِ زبان‌ها نشسته است، که به مجرد شنیدن آن، روز دهم ماه محرم به ذهن تداعی می‌شود.

گفته می‌شود: دلیل نام‌گذاری این روز به عاشورا این است، که ده اتفاق مهم از جمله: توبه حضرت آدم در بهشت، پایان شدن کشتی نوح بر کوه جودی، نجات حضرت ابراهیم از آتش، بینا شدن حضرت یعقوب به هنگام رسیدن پیراهن یوسف از مصر، بهبودی حضرت ایوب از بیماری، صعود حضرت عیسی به آسمان و نجات بنی اسرائیل از ظلم فرعون می‌باشد؛ اما بعد از بحث و دقت در روایات مربوط به پس منظر تاریخی این روز بزرگ، به این نتیجه می‌رسیم که قوم موسی علیه السلام در همین روز با شکافتن رود نیل و عبور از آن، از ستم‌گری‌های فرعون و فرعونیان نجات یافته اند و لشکر فرعون در دریای نیل غرق گردیده است؛ اما سایر روایات در باب واقعات تاریخی عاشورا صحت ندارد.

روزه‌ی روز عاشورا:

حضرت عایشه رضی الله عنها روایت نموده است که قریش سالانه در روز عاشورا روزه می‌گرفت و رسول اکرم -صلی الله علیه وسلم- نیز روزه می‌گرفت(۱)؛ در روایت دیگری از ایشان نقل شده است که پرده‌ی کعبه در روز عاشورا تبدیل می‌شد(۲).

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه می‌گوید: هنگامی‌که رسول اکرم -صلی الله علیه وسلم- به مدینه تشریف آورد، دریافت که یهود در این روز روزه می‌گیرد؛ از آن‌ها دلیل روزه گرفتن شان را پرسید؛ گفتند: در این روز خدای متعال حضرت موسی و قومش را از ظلم و شکنجه‌ی فرعون نجات داد و موسی علیه السلام برای ادای شکر الهی روزه گرفت و ما نیز به پیروی از آن‌حضرت روزه می‌گیریم؛ حضرت رسول -صلی الله علیه وسلم- فرمود: «ما به موسی نزدیک‌تر و شایسته تریم»؛ سپس آن‌حضرت عاشورا را روزه گرفت و اصحابش را نیز به روزه گرفتن در این روز مأمور کرد(۳).

از حضرت ابوقتاده رضی الله عنه، نقل گردیده است که شخصی در باب فضیلت عاشورا از آن‌حضرت -صلی الله علیه وسلم- پرسید: ایشان فرمودند: «گناهان یک سال گذشته را از بین می‌برد» و در روایت دیگر: «امیدوارم که گناه یک‌سال گذشته را نابود سازد»(۴).

هنگامی‌که رسول اکرم -صلی‌الله‌علیه وسلم- در روز عاشورا در مدینه روزه گرفت، برخی صحابه عرض کردند: یا رسول الله این روز را یهود نیز روزه می‌گیرد! آن‌حضرت -صلی الله علیه وسلم- فرمود: «سال آینده، -ان شاء الله- روز نهم را – نیز- روزه می‌گیریم»(۵). و در روایات دیگر آمده است: با روزه گرفتن روز نهم و دهم یا دهم و یازدهم با یهود مخالفت بورزید.

گرامی‌داشت قریش از روز عاشورا با روزه گرفتن و تأیید آن از سوی پیامبر اکرم -صلی الله علیه وسلم- در حیات مکی و سپس بار دیگر وجوب آن بر مسلمانان در سال نخست ورود به مدینه الی فرضیت روزه‌ی ماه مبارک رمضان در سال دوم، و همچنان روزه گرفتن یهود، همه نشان می‌دهد که یگانه و بزرگ‌ترین سنت تشریعی در روز عاشورا، فقط روزه گرفتن است.

بدین لحاظ، علمای اسلام، اختصاص هرنوع عبادت و انجام هرنوع سنت‌های مردمی دیگر متفاوت از سایر روزها را در شب و روز عاشورا بدعت خوانده اند.

شهادت امام حسین در روز عاشورا

امام حسین درسال شصت و یکم هجری هنگامی که از بیعت با یزید فرزند معاویه سر باز زد، بنا به دعوت های مکرر اهل عراق، از مکه معظمه راه کوفه را در پیش گرفت اما نرسیده به کوفه، در دشت کربلا با لشکر یزید برخورد و با هفتاد و دو تن از اهل بیت و یارانش به شهادت رسید.

حسین بن علی رضی الله عنه را، به خاطر محبت بیش از حد پیامبر -صلی‌الله‌علیه وسلم- نسبت به وی، «ریحانۀ الرسول» یعنی «گل خوشبوی پیامبر» می‌نامیدند؛ آن‌حضرت -صلی‌الله‌علیه وسلم- وقتی به بازار می‌رفت، حسین را بر شانه‌ی مبارک می‌نشاند و باخود به بازار می‌برد؛ در کوچه و بازار با وی شوخی می‌کرد؛ گاهی خود را به وی مرکب می‌ساخت و با چهار دست و پای در حالی که حسین بر پشت مبارک نشسته بود، روی خانه راه می‌رفت و بدین ترتیب حسین را درآوان کودکی سرگرم می‌ساخت.

امام ترمذی در سنن خویش در باب مناقب حسن و حسین، روایت نموده است که پیامبر -صلی الله علیه وسلم- فرمود: «حسین از من است و من از حسین؛ خدای متعال دوست دارد کسی را که حسین را دوست داشته باشد»(۶). و در روایت دیگر: «حسن و حسین سرور جوانان اهل بهشت اند»(۷).

سیمای حسین نسبت به هر کس دیگر مشابه‌تر به رسول اکرم -صلی‌الله‌علیه وسلم- می‌نمود و از همین جا بود که وقتی حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه، به وی بر می‌خورد، ناگهان اشک از چشمانش جاری می‌شد و آن محبت‌ها و شفقت‌ها و نوازش‌های را به یاد می‌آورد که پیامبر -صلی‌الله‌علیه وسلم- به حسین در زندگی نثار می‌کرد؛ و شوخی‌گونه برای مردم می‌گفت: «به پیامبر نگاه کنید».

حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه، به خاطر این‌که با خواهر حسین بن علی، (ام کلثوم) ازدواج کرده بود، از یک‌طرف به لحاظ قرابت خانوادگی و از سوی دیگر به افضلیت و حرمت دینی اهل بیت، حسن و حسین را به سان اصحاب بدر، احترام و تکریم می‌نمود؛ از همین‌جا بود که وقتی در جنگ قادسیه دختر یزدگرد پادشاه فارس اسیر شد، او را به محبوب‌ترین و نزدیک‌ترین شخص که امام حسین رضی الله عنه بود، بخشش کرد.

همان‌طور حضرت عثمان بن عفان به نسبت این‌که شوهر دو خاله‌ی امام حسین، رقیه و ام کلثوم بود، هم به لحاظ خانوادگی و هم از ناحیه‌ی پیوند خونی وی به رسول الله -صلی‌الله‌علیه وسلم- و احادیثی که در محبت اهل بیت نقل می‌گردید، به حسن و حسین محبت می‌ورزید و از جای‌گاه ویژه‌یی در نزد وی برخوردار بودند؛ چنانچه در هنگام محاصره‌ی خانه‌ی حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه، حسن بن علی از وی محافظت می‌کرد.

شاید همین عظمت حسین رضی الله عنه، بوده است که خدای متعال شهادت وی را به دست ظالمان در یکی از روزهای بزرگ و تاریخی که روز عاشورا است مقدر کرده باشد، تا پیام آزادی و انسانی وی برای نسل‌های واپسین ماندگار بماند.

آنچه در این‌جا درخور توجه است، مراسمی که از سوی اهل تشیع برای سوگ‌واری امام در کشورهای اسلامی برگزار می‌گردد و تقریباً رنگ و بوی دینی را به خود گرفته است، از لحاظ شرعی نه در مذهب اهل تشیع و نه در مذهب اهل سنت، اساس دارد.

اگر برگزاری مراسم سوگ‌واری از نظر شرعی اساس می‌داشت، به مناسبت شهادت حضرت علی بن ابی طالب که بزرگوارتر از حسین بود و ظالمانه به شهادت رسید، و همان‌طور، به مناسبت وفات پیامبر اعظم -صلی‌الله‌علیه وسلم- که «نسخه‌ی کونین را دیباچه اوست» نیز باید تدویر می‌یافت؛ و اگر بدین سان به تاریخ نگاه کنیم، مناسبت‌های بزرگ‌تری نسبت به حادثه‌ی کربلا از خلال زندگانی انبیای الهی سراغ خواهیم کرد که می‌باید تمام روزهای سال را به آن مناسبت‌ها اختصاص دهیم.

علاوه بر آن، انجام مراسم ویژه‌یی مانند: تقدیم نذر و نیاز، تهیه‌ی غذاها و آشامیدنی‌های مخصوص، رفتن به زیارت کربلا و زیارت‌گاه‌های دیگر، برافراشتن پرچم‌ها بر فراز بام‌ها، نصب نمودن پارچه‌های سیاه بر سر دکان‌ها و مسجدها، تدویر محافل مدیحه سرایی و اظهار سوگ‌واری به تمام انواع آن، اصل و اساس شرعی ندارند.

اهل تشیع که در پیوند به قضایای تشریعی همواره با روی‌کرد عقلانیت پیش می آیند، می‌سزد که به این مسایل نیز بازنگری نموده و راه و رسم حضرت علی و اهل بیت و ائمه‌ی بزرگ‌وار این مذهب را به شکل درست آن پیروی نمایند.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعار ما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943